د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۲ لمریز کال

دویم راپور



# فهرست


په کابل ښار کې پنځه لویې پروژې پرانیستل شوې ........................................................................ ۱

د کونړ د مناګي برېښنا بند پاتې چارې به بشپړې شي ................................................................... ۱۰

د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به سوداګري لا پراختیا ومومي.......................... ۱۹

د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو ننداریې ته وړاندې کېدل ....... ۲۹

ملي تدارکاتو کمېسیون د یو میلیارد افغانیو په ارزښت بېلا بېلې پروژې منظورې کړې ........................ ۳۹

د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو په جوړېدو سره به برېښنا تولید او کرنه وده وکړي .......................... ۴۷

د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي... .....۵۶

د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرح تایید شوه ................................................ ۶۵

د شهر نو پارک د بیارغونې چارې پیل شوې .................................................................................. ۷۴

د غوریانو د اوسپنې او تولک د سرپو کانونو شرکتونه اعلان شول .................................................. ۸۳

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ترکیې هېواد ته سفر وکړ ...................................................... ۹۲

د نوي کابل پروژې د لومړي فاز د دوهمې برخې چارې پیل شوې.............................................. ۱۰۱

# په کابل ښار کې پنځه لویې پروژې پرانیستل شوې



## سریزه:

بې له شــکه چې هر ملت د خپل ســیاسي او اقتصادي ژوند په اوږدو کې له بېلا بېلو بدلونونو سره مخ او ډېر پړاوونه يې تر شــا پرېښــي دي. ځینو ملتونو له هغو کړاوونو او ستونزو څخه چې تجربه کړي يې دي، عبرت اخیستی او د خپل راتلونکي د جوړولو له پاره يې ترې ګټه پورته کړې ده. خو یو شمېر نور بیا له تېرو ترخو تجربو سره سره بیا هم د ګډوډۍ په ډنډ کې پراته دي. افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې تېره څه باندې یوه پېړۍ کې درې ځلې له اشغال سره مخ شوی، خو په الهي نصرت او د افغانانو د غیرت له برکته ټول نیواکګر مات شــوي او له افغانســتان څخه شړل شوي دي. خو کومې ویجاړۍ چې ددې جګړو له امله پاتې دي، د افغانســتان اقتصاد يې له ننګونو سره مخ کړی دی. ځکه د افغانســتان ټولې زیربناوې د همدې جګړو پرمهال له منځه تللې، ســوداګري له ســتونزو سره مخ شوې، لنډه دا چې افغانستان په دې جګړو کې خپل هر څه له لاســه ورکړي دي. دا چې اوس په افغانســتان کې د اســلامي امارت تر چتر لاندې یو خپلواک حکومت رامنځته شوی دی، هڅه داده چې د افغانستان زیربناوې بېرته ورغوي او له دې لارې وکولای شي، دا هېواد هم په سیاسي او هم په اقتصادي لحاظ په پښو ودروي. په دې لړ کې د کابل ښار په بېلا بېلو برخو کې د پنځو لویو پروژو پرانیسته وشوه. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي وو، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ووېل: «د یوه هېواد د پرمختګ لپاره امنیت تر ټولو مهم دی چې الحمدلله اوسمهال په ټول افغانستان کې تامین کې شوی دی. کابل ښاروالي د امنیت راتلو له برکته د کابل ښار د ښکلا او منظموالي په موخه ډېرې هڅې کوي چې د پخوا په پرتله


د ښــار ښه منظمه شــوې، موږ یې ټولې ترسره شوې هڅې ســتایو او ملاتړ یې کوو.» د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه چې د یادو پروژو په بشپړېدو سره به کابل ښاریانو ته ډېر سهولتونه برابر او د ښار ګڼه ګوڼه به ورسره کمه شي. د دغو پنځو پروژو له ډلې د کابل شــمال- لوېدیځ نښــلوونکي سړک د جوړېدو چارې عملاً پیل شوې چې د یو نیم کال په موده کې به بشــپړې او ګټې اخیســتنې ته به وســپارل شي. د کابل شمال- لوېدیځ نښلوونکی سړک ۷.۵ کیلومتره اوږدوالی او ۳۰ متره سور لري، ۵۳۰ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي او لګښت یې د کابل ښاروالۍ له بودیجې څخه ورکول کېږي. د یادولو وړ ده چې د یاد سړک په جوړېدو سره به د هېواد شمالي ولایتونه مستقیماً د کابل – هرات له لویې ترانزیټي لارې سره ونښلول شي.

## په کابل ښار کې د پنځو لویو پروژو پرانیستلو موخه:


موخــه یــې د هېــواد آبادي او بیارغونه ده. ځکه د ســترو او مهمو پروژو پــه عملي کېدو سره پرمختــګ رامنځته او خلکو ته اسانتیاوې برابرېږي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «په کابل ښار کې د پنځو لویو پروژو پرانیستلو» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې په کابل ښار کې د پنځو لویو پروژو پرانیستلو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټوېټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




## راډیوګانې




## تلویزیونونه





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




## ورځپاڼې




## اژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## په کابل ښار کې د پنځو لویو پروژو پرانیستلو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شـبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره برېده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. په کابل ښــار کې د پنځو لویو پروژو پرانیســتلو په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼــو، ورځپاڼــو او ټوېټرپاڼــو په ګډون په دولتي رســنیو کې ده. په دولتي رســنیو کې د خلکو مثبتــو، منفي نظرونو او وړاندیزونــو شــمېر په ټولیــز ډول ۲۱۸۳ دی. د دې نظرونو له جملــې ۱۹۶۰مثبت دي. ۱۴۶منفي نظرونه او ۷۷ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۰ ٪، منفي ۷ ٪ او سالم وړاندیزونه۳ ٪ دي.

۲. په کابل ښار کې د پنځو لویو پروژو پرانستلو خبر په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، خبري اژانســونو او ویبپاڼو په ګډون په خصوصي رســنیو کې ده. په خصوصي رســنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۰۸۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۱۵ مثبت، ۱۹۳ منفي او ۸۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۵ ٪، منفي نظرونه ۱۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شــمېرو ته په پاملرنې په دولتي رســنیو کې د خصوصي رســنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو ســلنه زیاته ده. په دولتي رســنیو کې د مثبتو نظرونو ســلنه ۹۰ او په خصوصي رســنیو کې دا سلنه ۷۵ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۷ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۷۷۵مثبت نظرونه، ۳۳۹ منفي نظرونه او ۱۵۸ســالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۵ ٪ مثبت نظرونه، ۱۰ ٪ منفي نظرونه او ۵ ٪ ســالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسـنیو په پرتله په دولتي رسـنیو کې د مثبتو نظرونو سـلنې کچه لـوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. په کابل ښار کې د پنځو لویو پروژو پرانیستلو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رسنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. ددې خبر په اړه که څه هم په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو په خصوصي رســنیو کې هم د مثبتو نظرونو ســلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او ســلنه یــې لــوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې پــه برخه کې چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونــې وړ ده، دلتــه مــوږ یــوازې د گوتــو په شــمېر نظرونه چې په هغو کې مثبــت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شــامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونو بلکې سلگونو ته رسېږي.

- په رښتیا هم اسلامي امارت ثابته کړه چې د هېواد په خیر دی. ځینې زیربنایي کارونه پیل شوي او جریان لري، په ټول هېواد کې بشپړ امنیت دی، ټول افغانان د ورورگلوۍ په فضا کې ژوند کوي، زورواکي نشته او زورواکان تښتېدلي دي، اداري فساد صفر ته رسیدلی او د نشه یي توکو کرکیله بنده شوې ده.
- دا پروژې هغه بنسټیز کارونه دي چې باید د کابل تېرې ادارې ترسره کړې وای، خو هغوی یوازې په چور او چپاول بوخــت وو. کــه پــر حقیقــت ســترگې پټې نه کړو، په تېرو شــلو کلونو کې کــه چارواکو په ډېره کمــه فیصدي هم کار کړی وای، اوس به کابل آباد و.
- د سالنگ لویې لارې بیارغونه او جوړول ډېر مهم او اړین دي. د غور له لارې د کابل- هرات د لویې لارې د جوړېدو چارې باید پیل شي.
- د کابل حلقوي سړک ته باید پاملرنه وشي، څو د کابل ښار ترافیکي او ترانسپورټي ستونزې په بشپړ ډول هوارې شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی؛** د خلکو له نظرونو څخه جوتېږي چې دوی ددې پروژو د پرانیستلو له امله خوښ دي. ځکه دوی وایي،په رښتیا هم اسلامي امارت ثابته کړه چې د هېواد په خیر دی. ځینې زیربنایي کارونه پیل شوي او جریان لري، په ټول هېواد کې بشپړ امنیت دی، ټول افغانان د ورورګلوۍ په فضا کې ژوند کوي، زورواکي نشته او زورواکان تبتېدلي دي، اداري فساد صفر ته رسیدلی او د نشه یي توکو کرکیله بنده شوې ده. که پورتنیو مسایلو ته پاملرنه وکړو په رښتیا هم چې د اسلامي امارت له راتګ وړاندې نه امنیت و، نه صمیمیت، هر هغه کس حکومت و چې زور یې درلود، خپلسري اوج ته رسیدلې وه، د خلکو حقونه تر پښو لاندې کېدل، د اداري فساد له امله خو افغانستان په نړۍ کې لومړی مقام ګټلی و. خو اوس الحمدلله بشپړ امنیت ټینګ دی، زیربنایي کارونه روان دي. په ټوله کې هڅه داده چې افغانستان له هره اړخه پر خپلو پښو ودرېږي. دا هر څه په شعار کې نه دي، بلکې په عمل کې ثابت شوي هم دي. که موږ د اسلامي امارت له راتګ وروسته د سوداګرۍ کچې ته وګورو مخ پر وړاندې روانه ده، که صادراتو ته نظر وکړو د تېرو کلونو په پرتله دوه برابر شوي دي. دغه راز افغاني محصولات په هېواد دننه او بهر کې د نندارتونونو له لارې نړیوالو ته وړاندې شوي دي. بهرني پانګوال هڅول شوي دي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او تر دې مهاله په کانونو، برېښنا او داسې نورو برخو کې د مېلیاردونو ډالرو په ارزښت پانګونې ته لیوالتیا ښودل شوې ده. دا ټول هغه څه دي چې د اسلامي امارت په شتون کې یې امکانات برابر شوي دي. له دې ټولو څخه یې که د بېلګې په ډول یاد کړو هغه همدا پنځه پروژې دي چې په کابل کې پرانیستل شوې او د ځینو یې عملاً چارې پیل او روانې دي.

✍ **دویم؛** یو شمېر خلکو ځینې وړاندیزونه کړي دي. دوی وړاندیز کوي چې د سالنګ لویې لارې بیارغونه او جوړول ډېر مهم او اړین دي. د دوی وړاندیز د قدر وړ دی. د سالنګ د لویې لارې او تونل چارې پیل شوې دي. هڅه داده چې دغه لویه لار چې یوه ترانزیتي او مهمه لار ده په اساسي ډول ورغول شي. دا سړک ۳۰ کیلومتره اوږدوالي، ۹متره پلنوالي او د ۱.۵ متره د سړک د غاړو په لرلو سره په اساسي ډول جوړېږي چارې به یې په نږدې راتلونکي کې بشپړې شي. له ۳۰ کیلومترو څخه یې ۱۰ کیلومتره په شمالي سالنګ، ۱۰ کیلومتره په جنوبي سالنګ او ۱۰ کیلومتره د تونل دننه په اساسي او پاخه ډول جوړېږي. د یاد سړک په اوږدو کې دوه پلونه، پولګوټې، د تونل د زهکشي سیستم او ګالریو ترمیم هم شامل دي. نو اوس ویلای شو چې اسلامي امارت ټولې هغې لویې او ترانزیتي لارې چې کولای شي سوداګري پراخه او اقتصادي ټیکاو رامنځته کړي، په خپلو کاري لومړیتوبونو کې لري او غواړي ژر تر ژره یې ورغوي.


✍ **درېیم؛** یو شمېر هېوادوالو په خپلو وړاندیزونو کې د کابل حلقوي سړک د جوړېدو غوښتنه کړې ده او ویلي یې دي چې د کابل حلقوي سړک ته باید پاملرنه وشي، څو د کابل ښار ترافیکي او ترانسپورټي ستونزې په بشپړ ډول هوارې شي. د دوی وړاندیز پر ځای دی، ځکه د کابل حلقوي سړک په جوړېدو سره له یوه لوري ښاري ترانسپورت ته اسانتیاوې برابرېږي او ګڼه ګوڼه کمېږي او له بل لوري، هغه باروړونکي موټر چې اوسمهال له ښار څخه تېرېږي، ددې

سړک په جوړېدو سره به له همدې حلقوي سړک څخه ګټه پورته کوي او په ښار کې به د ګڼې ګوڼه مخه ونیول شي او هم به ددې زمینه برابره شي چې دا ډول موټر پر وخت او پرته له ځنډ څخه خپل سوداګریز توکي ولېږدوي. اسلامي امارت د دې سړک اهمیت ته متوجه دی، خو خبره داده چې د دې سړک لګښت اسیایي بانک په غاړه اخیستی و. د کابل ادارې تر سقوط وروسته د نورو مرستندویه بنسټونو په څیر اسیایي بانک هم په افغانستان کې خپلې هغه پروژې چې دوی تمویلولې پرځای پرېښودې. اوسمهال اسلامي امارت دې ته ورته پروژې پیل کړې دي، خو د کابل حلقوي سړک چارې ځکه لا پیل شوې نه دي، چې دا سړک زیاتې بودیجې ته اړتیا لري، کله یې چې بودیجه برابره شي، نو د نورو سترو پروژو په څېر به دا پروژه هم عملي شي. دا چاره وخت ته اړتیا لري.

## پایله

افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې جګړو یې هر څه له منځه وړي دي. په دې جګړو کې تر ټولو زیات بیا لوی ښارونه زیانمن شوي دي. ددې ښارونو له ډلې څخه یو هم کابل ښار دی چې د جګړې سخت تاړاکونه پرې تیر شوي دي. خو له جګړې وروسته حکومتونو یې د جوړېدو له پاره لکه څنګه چې په کار ده هسې کار نه دی کړی. زیربناوې یې نه دي رغول شوې او له امله یې خلک له سختو کړاوونو سره لا هم مخ دي. په دې زیربناوو کې سړکونه هم شامل دي. د کابل ښار چې د نفوس له پلوه یو له ګڼ مېشتو سیمو څخه دی، په اوسمهال کې یې د سړکونو د نشتوالي له امله ترانسپورتي ستونزې دوه برابره زیاتې دي. اسلامي امارت په دې وروستیو کې په لویو ښارونو کې ددې ستونزې د هواري له پاره لاس په کار شوی دی او هڅه کوي چې له پلان سره سم زاړه سړکونه ورغوي او نوي سړکونه له سره جوړ کړي، څو له دې لارې وکولای شي، ښاري ګڼې ګوڼې ته پای ورکړي او په دې برخه کې د خلکو ستونزې راکمې کړي. په همدې موخه یې د سړکونو جوړولو پروژې پیل کړې دي چې له دې ډلې څخه پنځه هغه یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانستل شوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل ښار کې د پنځو پروژو د چارو پیل په مناسبت جوړو شویو مراسمو ته وویل؛ د یو هېواد د پرمختګ لپاره امنیت تر ټولو مهم دی، چې الحمدلله اوسمهال په ټول افغانستان کې تامین شوی دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه چې د یادو پروژو په بشپړېدو سره به کابل ښاریانو ته ډېر سهولتونه برابر او د ښار ګڼه ګوڼه به ورسره کمه شي. له دغو پنځو پروژو څخه د کابل شمال- لوېدیځ نښلوونکي سړک د جوړېدو چارې عملاً پیل شوې چې د یو نیم کال په موده کې به بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت د افغانستان په ځانګړې ډول د لویو ښارونو د زیربناوو د جوړولو له پاره قوي هوډ لري. ددې ډول پروژو په عملي کېدو به له یوه لوري د ګڼې ګوڼې مخه ونیول شي او له بل لوري به په همدې پروژو کې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره او اقتصادي ستونزې به یې ورسره هواري شي.

# د کونړ د مناګي برېښنا بند پاتې چارې به بشپړې شي



## سریزه:

پـه افغانسـتان کـې د بندونـو د جوړولـو اړتیا د لاندې ځو لاملونـو له کبله زیاته ده. لومړی دا چې افغانسـتان یو کرنیز هېواد دی او پـه مېلیونونـو هکټـاره د کـر وړ ځمکـه لـري، له دې ځمکې یې ډېـره کمه برخه کرل کېږي او لامل یې د اوبو کمښـت دی، کـه چېـرې خپلـې پرېمانـه خـوړې اوبه مهـار کړو، نو دا ټوله ځمکه بـه د کر وړ وګرځي. بله خبره چـې د بندونو جوړولو اړتیا ته اشاره کوي هغه برېښنا ده. دا مهال افغانستان یوازې ۲۰ سلنه برېښنا په کور دننه تولیدي او پاتې هغه له ګاونډیو هېوادونو څخه پېري. له دې درکه هر کال مېلیونونه ډالر پر برېښـنا لګول کېږي. که چېرې په هېواد کې پر روانو اوبو جوړ شـوي بندونه په معیاري ډول ورغول شي او نوي بندونه جوړ شي، نو موږ به د برېښـنا له پلوه پر ځان بسـیا شـو او ددې اړتیا به نه وي چې له بهر څخه برېښنا وارده کړو.

اسلامي امارت همدې اړتیاوو ته پاملرنه کړې ده او هڅه کوي چې پر روانو پرېمانه طبیعي اوبو بندونه جوړ کړي، څو له یوه پلوه شاړې دښتې په کرنیزو ځمکو بدلې شي او له بل لوري د اړتیا وړ برېښنا چمتو کړي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسـیون نوبتي غونـډه کې د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ د مناګي د برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړولو په اړه بحث وشو. پرېکړه وشوه چې د مالیې وزارت دې د یاد بند قراردادي شرکت ته پاتې پیسې ورکړي، څو خپل کارونه پرمخ بوځي. د برېښنا ددې بند کارونه ۹۷.۷ سلنه بشپړ شوي


او پاتــې هغــه بــه یــې هــم په نږدې راتلونکي کې بشــپړ شي. دغه بند د ۲.۱ مېګاواټه برېښــنا د تولیــد ظرفیت لري او ۴۰۰۰ کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا برابره کړي.

## د کونړ د مناګي برېښنا بند د پاتې چارو بشپړېدو موخه:


موخه يې د برېښنا د کموالي ستونزې ته پای ورکول دي. څکه نن سبا برېښنا ته اړتیا زیاته او ډېرى چارې، هغه که صنعتي دي یا اداري او یا هم د نویو او عصري وسایلو کارول دي، ټول برېښنا ته اړتیا لري.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د کونړ د مناګي برېښنا بند د پاتې چارو بشپړېدو» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسـنیو کې د خلکو نظرونو سـلنه ښودل کېږي چې د کونړ د مناګي برېښنا بند د پاتې چارو بشپړېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### توېترپاڼې





### ویاندویان





### ویبپاڼې




### تلویزیونونه





### په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوگاني




### آژانسونه




### خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د کونړ د مناګي برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنـې په مانا ده. د دې مسـلې ارزونه او خپرول خلکـو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسـمي- حکومتي مسوولین او د سـیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښـښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ*

۱. د کونړ د مناګي برېښـنا بند د پاتې چارو د بشـپړېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، خبري اژانسـونو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسـنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شـمېر په ټولیز ډول ۱۱۴۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۰۹مثبت دي. ۸۷ منفي نظرونه او ۴۵ سـالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شـوي. مثبت نظرونه ۸۸.۴۳ ٪، منفي ۷.۶۷٪ او سالم وړاندیزونه۳.۹ ٪ دي.

۲. د کونړ د مناګي برېښـنا بند د پاتې چارو د بشـپړېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسـونو په ګډون په خصوصي رسـنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۷۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۲۷ مثبت، ۳۱ منفي او ۱۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳ ٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ٦ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رســنیو کې د مثبتو نظرونو ســلنه ۸۸.۴۳، په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د سالمو وړاندیزونو او منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ٦ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳۰۹ ده. دغه راز په خصوصي رســنیو کې د منفي نظرونو ســلنه ۱۱، خو په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۷.٦۷ ده. که په دولتي او خصوصي رســنیو کې مثبت، منفي نظرونه او ســالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۲۳٦مثبت نظرونه، ۱۱۸ منفــي نظرونه او ٦۲ســالم وړاندیزونه دي چــې له مخې یې ۸۸.۰۳ ٪ مثبت نظرونه، ۷.۵ ٪ منفي نظرونه او ۴.۴ ٪ ســالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسـنیو پـه پرتله په دولتي رسـنیو کې د مثبتو نظرونو سـلنې کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې په حکومتي کچه ترسره شــوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رســنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د کونړ د مناګي برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړېدو خبر هم په حکومت پورې اړه لري، نو له دې امله یې خبرونه په دولتي رســنیو کې په زیاته کچه خپرېږي. ددې خبر په اړه که څه هم په دولتي رســنیو کې د مثبتو نظرونو ســلنه لوړه ده، خو په خصوصي رسنیو کې هم د مثبتو نظرونو سلنه د پام وړ ده. هر خبر او راپور چې زیات خپور شي، نو په اړه یې نظرونه زیات او سلنه یې لوړه وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- افغانستان برېښنا ته اشد ضرورت لري او له هر څه مخکې باید همدا بندونه او د برېښنا زیربناوې جوړې شي.
- پښتو متل دی، پردی کټ تر نیمې شپې وي. هېڅ یو هېواد تل تر تله په پردۍ برېښنا ژوند نه شي کولای. په پردۍ برېښــنا هېــواد نــه شي ابادېدای. مســوولین باید د برېښــنا بندونه جوړ کړي. که داخلي امکانـات نه لري، کولی شي په دې برخــه کــې لــه چــین، هند، روســیې یا کوم بل هېواد سره تړون لاســلیک کړي او په دې ډول هېواد د برېښــنا له پلوه پرځان بسیا کړي.
- د مناګــي بنــد چــې کارونــه یی تر ډېره بریده تکمیل شــوي دي، که پاتې کارونه یې هم تکمیل شي ښــه او پر ځای اقدام دی.
- لــه اســلامي امــارت نــه هیله کــوو چې د کونړ او نورســتان اوبه نورې مهـار او بندونه پرې ورغوي، ډېـرې قیمتي او با ارزښته اوبه دي.

لـه اقتصـادي کمیسـیون څخه مو غوښـتنه دا ده چې د هلمند د زراعت او صنعت برخـو ته توجه وکړي. زراعت یې وروسـته پاتـې دی او صنعـت یـې له نشـت سره برابر دی. دغـه ولایت د صنعت او زراعت لپاره ډېر مناسـب دی او پراخه ساحې لري، په څنګ کې د توکو د بازار موندنې لپاره مناسب موقعیت هم لري.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

**لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د مناګي بریښـنا بند د پاتې چارو د بشـپړولو له امله خوښـي ښـودلې ده. دوی په خپلـو نظرونـو کـې ټینګار کړی چې افغانسـتان باید له خپلو پربمانه اوبو څخه د بریښـنا د تولیـد په برخه کې ګټه پورته کړي او له دې پلوه پر ځان بسیا شي. دوی وایي، هېڅ یو هېواد تل تر تله په پردی بریښنا ژوند نه شي کولای. په پردۍ بریښنا هېواد نه شي ابادېدای. مسوولین باید د بریښنا بندونه جوړ کړي. که امکانات نه لري، کولای شي په دې برخه کې بهرنۍ پانګونه راجلب کړي. د خلکو نظرونه د قدر وړ دي، ځکه افغانستان د بریښنا د تولید زیات ظرفیتونه لري او که یې له ټولو ګټه پورته شي، کولای شي له دې پلوه پر ځان بسـیا شي. د اسـلامي امارت مسـوولینو تل په خپلو خبرو کې پر دې خبره ټینګار کړی دی چې دوی غواړي افغانستان نه یوازې د بریښنا په برخه کې بلکې په ټولو برخو کې پر ځان بسیا او د نورو له احتیاجه یې خلاص کړي. په همدې موخه اسلامي امارت عملي ګامونه پورته کړي دي چې موږ یې د کجکي بند د دویم فاز بشـپړول، د دویم سروبي بند د طرحې چمتو کول، له ګازو او ډېرو سـکرو څخه د بریښـنا د تولیـد پـر طرحـو کار کول، د ځینو هغو بندونو چې کولای شي بریښـنا تولید کـړي، بیارغونه لکه د فراه د بخش اباد بند او اوس دا د کونړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ د مناګي بند. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت خپل ټول تمرکز پر دې راغونډ کړی دی چې بریښنا په کور دننه تولید او خپلې اړتیاوې پوره کړي. کومه بریښنا چې دا مهال له ګاونډیو هېوادونو څخه واردېږي او په میلیونونو ډالر لګښـت لري، دا پیسـې وسـپموي او هغه د هېواد د نورو برخو په رغونه کې ولګوي.

**دویم**؛ یـو شـمېر خلکـو پـه خپلـو نظرونـو کې له اسـلامي امارت څخـه هیله کـړې چې اوبـه دې مهـار او بندونه دې ورغوي. که موږ او تاسو وګورو واک ته د اسلامي امارت تر رسېدو وروسته د اوبو د مهارولو او مدیریت په برخه کې کوټلي ګامونه پورته شـوي دي. زیاتره د اوبو بندونه یا خو رغول شـوي او یا هم له سره جوړ شـوي دي. په دې بندونو کې سـتر او کوچني بندونه شامل دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د روانو اوبو ترڅنګ د واورو او باران اوبو له پاره هم بندونه جـوړ کـړي. څـو له دې لارې اوبه مهار او خپلې شـاړې دښـتې په کرنیـزو ځمکو بدلې کړي. کوم مشـهور بندونه چې په افغانسـتان کې شـته لکه کمال خان، بخش آباد، پاشـدان، شـاه عروس او همداسـې کوچني بندونه لکه د زابل د توري بنـد او دغـه راز پـه یو شـمېر نـورو ولایتونو کوچني بندونه چې کولای شي د باران او واورې اوبه زېرمه کړي، رغول شـوي دي او یا یې د رغونې چارې روانې دي. دغه راز په دې وروستیو کې د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر په افغانستان کې د قزاقسـتان له سـوداګریز اسـتازي یسـین تایف آرمان سره په کتنه کې د قزاقستان او افغانستان ترمنځ د اوبو او انرژۍ په برخه کې د ګډې همکارۍ په هکله خبرې وکړې. په کتنه کې په افغانستان کې د قزاقستان سوداګریز استازي د اوبو او انرژۍ په پروژو کې د قزاقستاني شرکتونو د پانګونې د لېوالتیا خبر ورکړ او د اوبو او انرژۍ وزارت له رهبرۍ څخه یې

د پانگونـې لپـاره د زمينـې پـه چمتـو کولو کې د همکارۍ غوښـتنه وکړه. ورته مهال، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست په هېواد کې د انرژۍ سکتور پراختيا د افغانستان له بنسټيزو اړتياوو څخه وبلله او زياته يې کړه چې د اوبو او انرژۍ وزارت رهبري د پانگونې لپاره د زمينې د چمتو کولو په برخه کې له هېڅ ډول همکارۍ څخه ډډه نه ده کړې او د بهرنيو پانگه والو له لېوالتيا څخه هم هرکلی کوي. اسلامي امارت هڅه داده چې پر خپلو داخلي امکاناتو سربيره د برېښنا د توليد په برخه کې بهرنۍ پانگونه هم را جلب کړي چې پورتنی خبر يې ښـه ثبوت دی. په همدې ډول اسـلامي امارت غواړي چې د شته بندونو پر مټ هم برېښنا توليد کړي او هم کرنيزو ځمکو ته اوبه پيدا او شاړې دښتې په کرنيزو ځمکو بدلې کړي. ددې چارې په ترسره کېدو به له يوه لوري کرنه وده وکړي او له بل لوري به د خلکو اقتصادي حالت ښه شي.

✍ **دريـم؛** د هلمنـد اوسـيدونکو لـه اقتصـادي کمېسـيون څخه چې مشري يې د رياسـت الـوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر غاړه ده، غوښتي چې د هلمند زراعت او صنعت ته دې پاملرنه وکړي. ځکه په دې ولايت کې هم د زراعت او هم د صنعت سکټور په نشت حساب دی. دوی وايي چې دغه ولايت د صنعت او زراعت لپاره ډېر مناسب دی پراخه سـاحې او په څنگ کې يې د توکو د بازارموندنې لپاره مناسـب موقعيت هم لري. په رښـتيا هم د هلمند مساحت زيات دی. د کرنې له پاره پراخې ځمکې لري، خو د اوبو د کمښت له امله يې زياتې ځمکې شاړې پاتې دي. که چېرې يې ځمکو ته اوبه پيدا شي، نو له شک پرته چې هلمند به د افغانستان په کندو بدل شي او په زياته کچه به کرنيز محصولات توليد کړي. د اسلامي امارت تر واکمنېدو وروسته يو ټکي ته پوره پاملرنه کړې ده او هغه دا چې په هېواد کې يې په متوازن ډول د بيارغونې چارې پيل کړې دي. نو هلمند ولايت يې هم له ياده نه دی وتلی. ددې ولايت ستراتيژيک موقعيت او پراخې ځمکې يې تر نظر تيرې کړې دي. خو مسله داده چې دا مهال اسلامي امارت په يوځلي نـه شي کـولای چـې د هېـواد ټولـو ولايتونو ته رسـيده گي وکړي او د خلکو ټولو غوښـتنو ته ځواب ووايـي. ځکه دا مهال دومره بوديجه چې وکولای شي ټولې برخې پرې ورغول شي، نه شي چمتو کيدی، همدا لامل دی چې اسلامي امارت د هغو برخو رغونې ته لومړيتوب ورکوي چې وکولای شي افغانستان له اقتصادي کړکيچ څخه راوباسي او تر يوه بريده د خلکو ستونزې هوارې کړي. کله چې اسلامي امارت په اقتصادي ډگر کې پرخپلو پښو ودرېږي، نو هغه مهال بيا کولای شي چې د خلکو ټولې غوښـتنې واوري او د حل لپاره يې کوټلي گامونه پورته کړي. که نړيوالو بنديزونو او داسـې نورو محدوديتونو ته ځير شو، نو په ښه ډول دا درک کولای شو، کوم کارونه چې اسلامي امارت په دې لنډه موده کې ترسره کړي دي، د ستاينې وړ دي. خو اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې او د يوه مسوول حکومت په توگه هڅه کوي چې افغانستان په هره برخه کې پر ځان بسيا او له نړۍ سره يې سيال کړي. دا چارې حوصله او وخت دواړو ته اړتيا لري.

**پایله**

د اوبــو بندونــه د اقتصادي فرصتونو او د دې ترڅنګ د کلیوالي ســیمو د پراختیا لامل ګرځي. افغانســتان هم په بېلا بېلو ولایتونو کې یو شــمېر بندونه لري چې ځینې یې د برېښــنا د تولید او ځینې بیا د څمکو خړوبولو له پاره جوړ شوي دي. د دې بندونــو لــه جملې څخه یو هم د کمال خان بند دی چې کولای شي د اوبو په مهارولو کې ســتره ونډه ولري. دغه بند چې په نیمروز ولایت کې موقعیت لري، د هلمند پر ســیند جوړ شــوی دی. د جوړېدو موخه یې هم د هلمند سیند پر اوبو سربېره د موسمي بارانونو د اوبو راګرځول دي. اسلامي امارت د اوبو د مدیریت په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي او هڅــه یــې داده چــې د هېواد اوبه د بندونو له لارې مهار او په پوره ډول تري ګټه پورته کړي. د کمال خان بند د چارو په بشپړېدو سره به د نیمروز ولایت په لسګونه زره جریبه شاړې ځمکې په کرنیزو هغو بدلې او د کرکیلې په برخه کې به شته ستونزې هوارې شي. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۲ لمریز کال د وري میاشــتې په لومړۍ نېټه نیمروز ولایت ته ســفر وکړ. په دې سفر کې محترم ملا صاحب د نیمروز له والي سره تــر لیدنې وروســته له کمال خان بند څخه لیدنــه وکړه. د نیمروز ولایت له والي سره یــې د دې ولایت د خلکو د اوبو ستونزو حل او کرنیزو ځمکو ته د اوبو رسولو په اړه خبرې وکړې. ورپسې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او مل پلاوي د کمال خان بند د توربینونو د نصبولو بهیر وکوت او د اوبو ذخېرې ظرفیت د زیاتوالي، د اړوندو کانالونو د پاک کارۍ او په ټوله کې د چارو ښه مدیریت په اړه یې مسئولینو ته لازمې لارښوونې وکړې. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت د هېواد بیارغونې، پرمختګ او په تېره بیا اقتصادي ودې ته ځومره ژمن دی. که چیرې د اوس په شــان اســلامي امارت خپلو اقتصادي، صنعتي، کرنیزو او سوداګریزو پلانونو ته د عمل جامه ور واغوندي، نو لرې نه ده چې افغانستان به د نړۍ یو له پرمختللو هېوادونو څخه وي.

# د سالنگونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به سوداګرې لا پراختیا ومومي



**سریزه:**

لارې او سړکونه د بشري ټولنو او هېوادونو د تړاو او اړیکو له پاره وسیلې دي. دې برخې هغه مهال لا زیات ارزښت پیدا کړ چې له بحري لارو چا ګټه نه پورته کوله؛ نو ځکه خو ځمکنیو یا په وچه کې غځېدلو لارو زیات اهمیت درلود. اسلامي امارت د لویو لارو دې ارزښت ته په کتو هڅه پیل کړې ده چې ټولې مهمې سوداګریزې او ترانزیټي لارې ورغوي. په دې لړ کې یې په دې وروستیو کې د سالنګونو او کابل- کندهار د لویو لارو رغولو ته مخه کړې او غواړي دا مهمې ترانزیټي او سوداګریزې لارې په لنډه موده کې ورغوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې چارو پروژه د روان لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۱مه نېټه پرانیستل شوه. په همدې موخه په جوړو شویو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د ټولګټو وزارت سرپرست محترم ملا محمد عیسی ثاني، د پروان او بغلان ولایتي مسوولینو او د خصوصي سکټور استازیو حضور درلود. محترم ملا صاحب د یادې پروژې د پرانیستې په موخه جوړو شویو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، له قوش‌تېپې ملي کانال وروسته دا دوهمه لویه ملي او اقتصادي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به یې د هېواد له شمال څخه جنوب ته د تګ راتګ او سوداګرۍ په برخه کې ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت په ټول توان سره د دې ملي پروژې بشپړولو ته چمتو دی او په دغه برخه کې قراردادي شرکتونو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. د سالنګونو لویې لارې ۸۰ کیلومتره یې په پاخه او اساسي ډول جوړېږي. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۴مه نېټه د کابل-کندهار له ارغندۍ تر دوراني بازار پورې لویې لارې د


قیر اچونې چارو پروژه پرانیسته. په همدې موخه جوړې شوې غونډې ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې د هېواد د نورو لویو لارو په پرتله د کابل-کندهار پر لویه لار ګڼه ګوڼه زیاته ده. د دې لارې د اړول شوي سړک دواړو خواوو ته پراته کورونه او پر دغه لار تلونکي مسافر د خامه سړک ګرد او دوړو له ستونزو سره مخ کړي دي. موږ له قراردادي شرکتونو څخه غواړو چې یاد سړک څومره ژر ممکنه وي، په ښه کیفیت، پوره صداقت او امانت‌دارۍ سره ورغوي. همدا راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې قراردادي شرکتونه د یاد سړک په هغو برخو کې چې د جوړېدو چارې یې عملاً جریان لري دواړو خواوو ته پر فرعي سړکونو د عامو هېوادوالو د تلو راتلو پر مهال اوبه واچوي، څو پر دغه لار تلونکو مسافرو او شاوخوا کورونو ته تکلیف ونه رسېږي. همدارنګه په غونډه کې د خصوصي سکټور استازیو وویل چې په هېواد کې د لویو لارو او په ځانګړې ډول د سالنګونو او کابل- کندهار لویو لارو په بیارغېدو سره به د افغانستان سوداګرۍ او د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا څخه سویلي آسیا ته د ترانزیټ په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راشي. له ارغندی تر دراني بازار پورې سړک ۲۷ کیلومتره اوږدوالی، ۱۱ متره پلنوالی او د ۵۰ او ۸۰ مترو په اوږدوالي دوه لوی پلونه او ٦۰ پلچکونه لري، چې شاوخوا یو مېلیارد افغانۍ لګښت پرې راځي. په پای کې محترم ملا صاحب له قراردادي شرکتونو څخه وغوښتل چې څومره ژر ممکنه وي دغه پروژه دې په ښه کیفیت، په پوره صداقت او امانت‌دارۍ سره بشپړه کړي.

**د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به یې سوداګرۍ لا پراختیا ومومي موخه:**

موخه یې د سوداګرۍ پراختیا او غوړېدا ده. ځکه ددې لارو په جوړېدو به له یوه لوري د هېواد شمال او جنوب سره ونښلول شي او له بل لوري به د مرکزي آسیا او سویلي آسیا ترمنځ په ترانزیټ کې اسانتیاوې رامنځته شي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به سوداګرۍ لا پراختیا ومومي» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به یې سوداګري لا پراختیا ومومي راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټوېټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې



### راډیوګانې





### تلویزیونونه




### ویب پاڼې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې



## ویبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې





## مهم اشخاص




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به یې سوداګري لا پراختیا ومومي خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به یې سوداګري لا پراختیا ومومي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، خبري اژانسونو، ویبپاڼو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۶۸۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۲۷۰مثبت دي. ۳۰۷ منفي نظرونه او ۱۱۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به یې سوداګري لا پراختیا ومومي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۳۸۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۷۶۵ مثبت، ۴۲۳ منفي او ۱۹۸ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۶ ٪، منفي نظرونه ۱۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۹، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸٦ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۰ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۷۰۳۵ مثبت نظرونه، ۷۳۰ منفي نظرونه او ۳۱۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۷٪ مثبت نظرونه، ۹٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې په دولتي او خصوصي رسنیو کې د مثبت نظرونو سلنه تقریباً یو شان ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې؛ په رغېدو به سوداګري لا پراختیا ومومي، دغه خبر هم د بیارغونې او د داسې لویو لارو د جوړېدو دی چې کولای شي، له یوه لوري خلکو ته په تګ راتګ کې اسانتیاوې رامنځته کړي او له بل لوري به د دې لویې او ترانزیټي لارې په مرسته د هېواد په سوداګرۍ کې پرمختګ راشي. هر خبر چې ډېر خپور شي، نو طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د بیارغونې په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د لویو لارو جوړېدل، رغېدل او پراخېدل د اقتصاد د پیاوړتیا او غښتلي کېدو معنا او ارزښت لري. خو د شرکتونو اهلیت، وړتیا او کار ته ژمنتیا باید ډېره جدي په پام کې ونیول شي. له بده مرغه ځینې شرکتونه کاري امکانات، وړتیا او ژمنتیا نه لري.
- دا د اسلامي امارت د عام المنفعه خدمتونو یوه بېلګه ده. که چېرې دا کار اسلامي امارت په بریالیتوب سره سرته ورسوي، نو دا به د تېرې اداري د چارواکو پرمخ یوه کلکه څپېړه وي، د هغوی چې په تېرو شلو کالو کې سره له امکاناتو پر دې ونه توانېدل چې د سالنګ لویه لار جوړه کړي.
- باید د افغانستان د ټولو سړکونو د جوړولو او رغولو چارې د حق العبور په مقابل کې کورنیو شرکتونو ته ورکړل شي چې دا هم د افغاني شرکتونو او هم د ملت په ګټه کار دی.
- الله ج دې وکړي چې د سالنګ د سړک د بیا رغونې په څېر د افغانستان ټولې لویې لارې په اساسي ډول جوړې او د ټولو وطنوالو مشکلاتو ته د پای ټکی کېښودل شي.
- پر دې لویو لارو باید د هغو موټرو په تګ را تګ بندیز ولګېږي چې بار یې تر ټاکلې اندازې زیات وي. متخلفینو ته

یې باید عامه شتمنیو ته د زیان اړولو په جرم سخته سزا ورکړل شي.

- د کابل- کندهار او کابل- مزار لویې لارې باید ورغول شي او ترڅنګ یې ریل پټلۍ هم جوړه شي چې دا کولای شي هم د خلکو په تګ او راتګ او هم د سوداګرۍ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته او ستونزې حل کړي.
- د کابل- کندهار لویې لارې کار دې چټک شي، ځکه خلک له زیاتو ستونزو سره مخ دي. په څلور میاشتو کې یې دومره کار شوی چې باید په یوه میاشت کې ترسره شوی وای.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ په ټوله کې خلکو ددې سترې او مهمې سوداګریزې او ترانزیټي لارې د بیارغونې له امله خوښي ښودلې ده. دوی په خپلو نظرونو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هلې ځلې ستایلې دي او ویلي یې دي چې اقتصادي مرستیال ته که د بیارغونې د اتل لقب ورکړل شي، دا به یو پر ځای اقدام وي. ځکه نوموړی چې د هېواد هر طرف ته د سفر موزې په پښو او څادر په اوږه کړي، د آبادۍ د یوې لویې پروژې زیری ورکړي. په رښتیا هم اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد په ځانګړي ډول اقتصادي پرمختګ ته سخت لیواله دی. ټوله هڅه یې همدا ده او په خپلو خبرو کې یې هم تل پر دې ټکي ټینګار کړی دی چې موږ باید نور افغانستان اباد، اقتصاد یې په پښو ودرو، سوداګري پراخه، د کورنیو پانګوالو ترڅنګ بهرني پانګوال هم په هېواد کې پانګونې ته وهڅوو. نوموړي تل ډاډ ورکړی دی چې اوسمهال بهرني او کورني پانګوال کولای شي په افغانستان په طبیعي زېرمو او نورو برخو کې پانګونه وکړي. په کور دننه او د خپلو ملي عوایدو پرمټ یې ځینې ملي پروژې پیل کړې دي او چارې یې روانې دي. دغه راز یې کورني شرکتونه دې ته هڅولي دي چې د هېواد پر یو شمیر سترو پروژو لکه همدا د سالنګ لویه لار، پانګونه وکړي. نو په لنډ ډول ویلای شو چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد په بیارغونه او پرمختګ کې خپلې هېڅ راز هلې ځلې نه دي سپمولې.

**دویم**؛ یو شمېر خلکو بیا په خپلو نظرونو کې د لویو لارو جوړېدل، رغېدل او پراخېدل د اقتصاد پیاوړتیا بولي، خو پر دې خبره ټینګار کوي چې د شرکتونو وړتیا او کار ته ژمنتیا باید ډېره جدي په پام کې ونیول شي. له بده مرغه ځینې شرکتونه کاري امکانات، وړتیا او ژمنتیا نه لري. د دوی نظر د قدر وړ دی، خو اسلامي امارت تل پر دې ټینګار کړی دی چې سترې پروژې باید داسې شرکتونو ته په قرارداد ورکړل شي چې هغوی خپل هېواد، ملت او خاورې ته پوره ریښتیني او ژمن وي. د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې پروژې په پرانیست غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې د افغانستان اسلامي امارت په ټول توان سره د دې ملي پروژې بشپړولو ته چمتو دی او په دغه برخه کې قراردادي

شرکتونو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. ددې ترڅنګ یې له قراردادي شرکتونو څخه هم په کلکه وغوښتل چې په پوره ایماندارۍ او صداقت سره دې خپلې چارې پرمخ بوځي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت که شرکتونو ته د همکارۍ ډاډ ورکوي، نو له دوی څخه د باکیفیته او پر وخت د چارو پای ته رسېدل غواړي. په دې حالت کې نو هغو شرکتونو ته چې د امکاناتو، وړتیا او ژمنتیا له پلوه کمزوري وي، د پروژو د قرارداد ورکول ناشوني ښکاري.

✍ **دریم**؛ ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې د اسلامي امارت له لوري د سالنګ لویې لارې رغول، د کابل تیرې ادارې د چارواکو پرمخ کلکه څپېړه بللې ده او ویلي یې دي چې دا د اسلامي امارت د عام المنفعه خدمتونو یوه بېلګه ده. که چېرې دا کار اسلامي امارت په بریالیتوب سره سرته ورسوي، نو دا به د تېرې ادارې د چارواکو پرمخ یوه کلکه څپېړه وي، د هغوی چې په تېرو شلو کالو کې سره له امکاناتو پر دې ونه توانیدل چې د سالنګ لویه لار جوړ کړي. له دې څخه جوته شوه چې خلک دې ته هیله من دي چې اسلامي امارت به وکولای شي افغانستان له اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پلوه د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي. د خلکو دغه هیله اسلامي امارت ته نور هم ددې توان او قدرت وربښي چې د شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره افغانستان په هره برخه کې پر ځان بسیا کړي. دا مهال چې کومې پروژې په هېواد کې روانې دي، دا به د خلکو همدا هیله ډېره ژر په حقیقت بدله کړي او افغانستان به یو پرمختللی او خپلواک هېواد واوسي.

✍ **څلورم**؛ یو شمېر خلکو بیا وړاندیز کړی دی چې که چېرې د سالنګ د لویې لارې په څېر د هېواد نورې لویې لارې هم ورغول شي، نو له دې سره به د هېوادوالو ستونزې پای ومومي. په رښتیا هم سړکونه او لویې لارې د تګ راتګ او د سوداګریزو توکو د لیږد له پاره اړینې دي. هغه هېوادونه چې سړکونه یې جوړ دي، له کومې ستونزې پرته کولای شي خپل محصولات او تولیدات پر وخت تر مارکیټونو ورسوي او هم خلک په تګ او راتګ کې ستونزې نه لري. افغانستان چې جګړو سخت ځپلی دی سړکونه او لویې لارې یې هم له منځه تللي دي. ددې سړکونو او لویو لارو په یو ځلي جوړول پریمانه امکاناتو او بودیجې ته اړتیا لري چې دا مهال ددې دواړو چمتو کول یو څه ستونزمن دي. خو سره له دې هم اسلامي امارت د شته امکاناتو څخه په استفادې سره تر ډېره بریده توانیدلی دی چې د هېواد په کچه د لویو لارو د بیارغونې چارې پیل کړي چې ښې بیلګې یې همدا د سالنګونو لویه لار، د کابل- کندهار لویه لار او په یو شمېر ولایتونو کې داسې نور سړکونه دي چې د جوړېدو چارې یې روانې دي.

✍ **پنځم**؛ ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې د کابل- کندهار لویې لارې د جوړېدو چارو د چټکتیا غوښتنه کړې ده او ویلي یې دي چې د کابل- کندهار لویې لارې کار دې چټک شي، ځکه خلک له زیاتو ستونزو سره مخ دي. په څلور میاشتو کې یې دومره کار شوی چې باید په یوه میاشت کې ترسره شوی وای. اسلامي امارت د خلکو دا ستونزې درک کړې دي او په دې پوه دي چې خلک او سوداګر دواړه له ستونزو سره مخ دي. د کابل- کندهار له ارغندۍ څخه تر درانې بازار پورې د ۲۷ کیلومتره سړک د قیر اچولو پروژې د پرانستې په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې ددې ستونزو یادونه وکړه او له قراردادي شرکتونو څخه یې په ټینګه وغوښتل چې د کار په جریان کې دې پر فرعي سړکونو اوبه وپاشي، څو تر یوه بریده د سړک ګرد او خاورو له امله راولاړې شوې ستونزې راکمې شي.

✍ **شپږم**؛ ځینو خلکو په خپلو وړاندیزونو کې ویلي دي چې په دې لویو لارو دې هغه باروړونکي موټر نه پرېښودل کېږي، د کومو چې بار تر ټاکلې اندازې زیات وي. ځکه دا سړکونه خرابوي او سرغړونکو ته دې عامه شتمنیو ته د زیان اړولو په جرم درنه سزا ورکړل شي. د دوی دا وړاندیز پر ځای دی، ځکه د سړکونو له جوړولو وروسته د سړکونو څارنه او ساتنه هم لازمي ده. په رښتیا هم که پر لویو لارو او سړکونو بار وړونکي موټر له ټاکلې اندازې زیات بار یوسي، نو دا د سړک عمر راکموي. خو اسلامي امارت وار له مخې دې ټکي ته متوجه دی او ددې لویو لارو په اوږدو کې یې د لوړ تناژ تلې نصب کړي دي او همدا اوس هم هغه موټر چې له ټاکلې اندازې یې بار زیات وي، تخلیه کوي او نه پرېږدي چې سړکونو ته زیان واړوي.

## پایله

افغانستان داسې یو هېواد دی چې په وچه کې ایسار دی او اوبو ته لار نه لري، نو له همدې امله معیاري لویو لارو ته سخته اړتیا لري. معیاري لویې لارې او سړکونه د محصولاتو او تولیداتو پر لېږد او دغه راز په اقتصادي وده زیات اغېز لري. که چېرې موږ معیاري سړکونه ولرو، نو موږ به په بازار کې د توکو د بیو د ټیټوالي او هغو ته په اسانۍ سره د لاسرسي شاهدان واوسو.

که پورتنیو ټکو ته پاملرنه وکړو، نو دا به راته په ډاګه شي چې د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې د افغانستان له پاره مهمې ترانزیټي او سوداګریزې لارې دي چې د هېواد زیاتره ولایتونه له یو بل سره نښلوي. ددې ترڅنګ ددې لارو په رغیدو سره به د افغانستان په ترانزیټ کې هم د پام وړ پرمختګ رامنځته شي، ځکه دا لویې لارې د مرکزي آسیا او سویلي آسیا هېوادونه یو له بل سره وصلوي. دغه هېوادونه کولای شي له دې لارې په استفادې سره خپل ترانزیټي مالونه په اسانۍ او کمه موده کې ولېږدوي.

دې ټکو ته په پاملرنې سره د سالنګونو او کابل- کندهار لویو لارو د بیارغونې چارو پروژې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د سرطان په ۲۱ او ۲۴مه نېټه پرانیستل شوې. د سالنګ سړک چې ۸۰ کیلومتره اوږدوالی لري په دوو کلونو کې به یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه راز د کابل- کندهار له ارغندۍ څخه تر دوراني بازار پورې لویې لارې اوږدوالی ۲۷کیلومتره دی چې د قیر اچولو چارې به یې پر ټاکلې نېټه پای ته ورسېږي. د دې لویو لارو په بشپړېدو سره به د تګ راتګ او سوداګرۍ برخه کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي. دا موږ ته ښیي چې اسلامي امارت په ټول توان هڅه کوي، هغه لویې لارې چې کولای شي سوداګري پراخه او اقتصاد پیاوړی کړي، په اساسي او معیاري ډول ورغوي. ددې پروژو په بشپړېدو سره به د تګ او راتګ، سوداګرۍ او ترانزیټ په برخو کې اسانتیاوې او پرمختګونه مشاهده شي.

# د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته وړاندې کېدل



**سریزه:**

پـه ننـنـی نـړۍ کـې د هـر ډول نندارتون جوړېدو موخه د نويـو محصولاتو معرفي کېدل، د صنعت پـه اړه معلومات او وړتياوو پـه ډاګـه کېـدل او دغـه راز د صنعـت په مديريـت کې د نويو کړنلارو وړاندې کول دي چې دا ټـول کولای شي د صادراتو په پراختيـا او د نظـر وړ بازارونـو پـه موندلـو تمام شي. نو له دې امله په اوسـنۍ نړۍ کې له نندارتونونـو پرته اقتصادي وده او د سوداګرۍ پراختيا ناشوني دي. همدې ټکو ته په پاملرنې د اسلامي امارت په ملاتړ د سوداګرۍ او پانګونې خونې له لوري د امام ابو حنیفه(رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون جوړ شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابو حنیفه (رح) د دوهم ملي او نړیوال نندارتون پـه پرانیسـت غونـډه کـې ګـډون او وینـا وکړه. محـترم ملا صاحب د یـاد نندارتـون ګډونوالو تـه د خپلو خبرو پـر مهال وویل چـې نندارتونونـه د یـو هېـواد صنعتـي تولیـدات او کرنیز محصولات خلکو تـه وروپېژني او حکومتونه هم په کـور دننه او بهر د بازارموندنې په خاطر نندارتونونه جوړوي. اسلامي امارت هم د افغانستان د صنعتي تولیداتو او کرنیزو محصولاتو د معرفي کېدو لپاره په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو لړۍ پیل کړې ده. محترم ملا صاحب د نندارتونونو ارزښت ته په کتو وویل چې د اسـلامي امارت له راتګ وروسـته دا تر ټولو لوی نندارتون دی چې تر ٦٠٠ زیاتو غرفو کې بېلا بېل صنعتي او کرنیز توکي نندارې ته وړاندې شـوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، په دغه نندارتون کې د شـانګهای سـازمان هم د ګډون


غوښتنه کړې ده، چې اسلامي امارت د یاد سازمان دغه اقدام ستایي او هرکلی یې کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې د اسلامي امارت له راتګ سره د امنیت په ټینګېدو په ټول هېواد کې پانګونې او د کانونو را ایستلو ته تر بل هر وخت ښه زمینه برابره شوې او له دې برکته افغانستان تازه د بیارغېدو مرحلې ته داخل شوی.د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د مرکزي او سویلي آسیا هېوادونو ته ډاډ ورکړ چې افغانستان د ترانزیټ لپاره تر ټولو خوندي لاره ده او په دغه برخه کې یې د نورو اسانتیاوو پر رامنځته کېدو سربېره د لویو لارو بیارغونه هم پیل کړې، چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې د سالنګ او کابل-کندهار لویو لارو د بیارغونې چارو پرانیسته ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې دننه د سوداګرۍ پراخېدو او د سوداګرو ستونزو ته د رسېدو په هکله وویل چې په تېر نږدې وخت کې یې په همدې موخه په ارزګان او زابل ولایتونو کې د سوداګرۍ خونې پرانیستې دي او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ته یې هدایت کړی چې په بغلان ولایت کې هم ژر تر ژره د سوداګرۍ خونه پرانیزي او لازم تشکیل ورته برابر کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو افغان او بهرنیو پانګوالو ته بلنه ورکړه چې راشي او په افغانستان کې پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې اسلامي امارت له خپل لوري بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکوي چې له ټولو هغو امتیازاتو به برخمن وي کوم چې افغان پانګوالو ته ورکول کېږي. د امام ابو حنیفه (رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون د اسلامي امارت په ملاتړ د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له لوري افغاني محصولاتو او تولیداتو ته د بازارموندنې، د ملي پانګوالو ملاتړ، د ملي او نړیوالو سوداګرو ترمنځ د اړیکو برابرولو او هېوادوالو ته د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د ورپېژندلو په موخه جوړ شوی و، چې په سلګونو غرفو کې بېلا بېل کرنیز، ساختماني، لاسي صنایع، طبي وسایل، درمل او نور ملي محصولات او تولیدات پکې ننداریې ته وړاندې شوي وو. د یادولو وړ ده چې په دغه نندارتون کې پر کورنیو صنعتکارانو سربېره د ایران، ترکمنستان، ترکیې، پاکستان او یوشمېر نورو هېوادونو صنعتکارانو هم خپل تولیدات ننداریې ته وړاندې کړي وو.

## د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو ننداریې ته د وړاندې کېدو موخه:


موخه یې د سوداګرۍ پراختیا ده. ځکه حکومتونه غواړي د نندارتونونو له لارې خپل محصولات او تولیدات خلکو ته معرفي کړي او د هغو له پاره په کور دننه او له هېواده بهر بازارونه پیدا کړي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال ننداړتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته د وړاندې کېدو » خبر یې خپور کړی دی:**


## الف: دولتي رسنۍ:




## ب: خصوصي رسنۍ:





## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال ننداړتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته د وړاندې کېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## ټویټرپاڼې





## ویب پاڼې




# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### راډیوګانې





### تلویزیونونه





### ورځپاڼې





### ویاندویان




### آژانسونه





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه





### ورځپاڼې




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته د وړاندې کېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته د ورانـدې کېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو، ویبپاڼو او ټوېټرپاڼو په گډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۵۲۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۴۳۰مثبت دي. ۵۹ منفي نظرونه او ۳۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته د ورانـدې کېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. پـه خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیـز ډول ۱۳۰۸ دی. د دې نظرونو له جملـې ۸۰۲ مثبت، ۳۷٦ منفي او ۱۳۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۱ ٪، منفي نظرونه ۲۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۰ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ٦۱ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۹ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۲ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۲۳۲ مثبت نظرونه، ۴۳۵ منفي نظرونه او ۱٦۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۹٪ مثبت نظرونه، ۱۵٪ منفي نظرونه او ٦ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په گټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختگ په لور ځي. د امام ابو حنیفه(رح) دوهم نړیوال نندارتون او د کورنیو او بهرنیو تولیداتو نندارې ته د وړانـدې کېدو، دغه خبر هم د نندارتون د جوړېدو دی چې کولای شي، د هېواد کورني تولیدات او محصولاتو معرفي او د هغو د ودې او پراختیا لامل وگرځي. هر خبر چې د هېواد پرمختگ پکې نغښتي وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې د صنعت د پرمختگ په برخه کې چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- ملا عبدالغني برادر اخوند په ټوله معنی یو هېوادپال شخص دی، په رښتیا چې په دې کمه موده کې ډېر ستر خدمتونه ترسره کړي دي، الله پاک دې وساتي، دا زموږ د هېواد ملي سرمایه ده، باید د ده هڅې د ملت له لوري وستایل شي.
- له ګاونډیو هېوادونو نه چې هر شی هېواد ته راواردیږي باید ښه کلکه څارنه یې وشي، ځکه پخوا له پاکستان څخه افغانستان ته واردېدونکي ټول مواد او درمل بې کیفیته وو.
- د اسلامي امارت مشرتابه دې ټولو امارتي ادارو ته متحدالمال مکتوب واستوي او سپارښتنه دې وکړي چې ټولې امارتي ادارې دې د وطن تولید شوي اجناس واخلي.
- د پکتیکا ولایت اورګون ولسوالۍ نه تر تورې تنګۍ پورې لاره ډېره خرابه ده، خلک له ستونزو سره مخ دي، اسلامي امارت دې توجه وکړي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې د افغانستان د بیارغونې او پرمختګ په برخه کې په ټوله کې د اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند هڅې ستایلې دي او هغه یې یو هېواد پال شخص بللی دی. د خلکو نظرونه د قدر وړ دي، په رښتیا هم د اسلامي امارت په راتګ سره د هېواد د پرمختګ او بیارغونې په برخه کې د پام وړ ګامونه اوچت شوي دي. په دې برخه کې سترې، متوسطې او کوچنۍ پروژې یا خو عملي شوې او یا یې کارونه جریان لري. په دې برخه کې اقتصادي معاونیت چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه ده ډېرې هڅې شوې دي او لا هم روانې دي چې واقعاً د ستایلو وړ دي.

✍ **دویم**؛ یو شمیر نورو خلکو بیا په خپلو نظرونو کې هېواد ته پر واردېدونکو خوراکي توکو او درملو د کلکې څارنې غوښتنه کړې ده. دوی وایي چې پخوا له پاکستان څخه افغانستان ته واردېدونکي ټول مواد او درمل بې کیفیته وو. د دوی دا نظر پر ځای دی، ځکه د کابل په تیره اداره کې فساد زیات و، له ګاونډیو هېوادونو څخه زیاتره خوراکي توکي او درمل په قاچاقي او ناقانونه ډول هېواد ته راوړل کېدل. نه یې چا پوښتنه کوله او نه یې کنټرول و. کومو کسانو چې دغه ډول توکي واردول، کیفیت یې ټیټ وو. خو واک ته د اسلامي امارت په رسېدو

سره د ګمرکونو ترڅنګ پولې هم په کره ډول څارل کېږي او چاته ددې اجازه نه ورکول کېږي چې په ناقانونه او قاچاقي ډول دغه مواد وارد کړي. تاسو ته معلومه ده چې اسلامي امارت په اډانه کې دوې ادارې شته چې یوه د سټنډرډ ملي اداره او بله د خوراکي توکو او درملو اداره ده چې دواړه یې فعالې او خپلې چارې یې په ښه ډول پرمخ بیولې دي. دې دواړو ادارو هم په کور دننه او هم له بهر څخه واردېدونکو توکو کیفیت کنټرولوي او بیا داخل ته د راتګ اجازه ورکوي. د سټنډرډ ملي اداره د تیلو او ګازو او د خوراکي توکو او درملو اداره بیا د همدې توکو کیفیت څاري او تر دې مهاله یې زیاتره هغه توکي چې کیفیت یې ټیټ دی، بېرته مسترد کړي دي. اوسمهال افغانستان ته باکیفیته توکي واردېږي او په دې برخه کې لا هم کار روان دی.

✍ **درېیم**؛ ځینو خلکو بیا وړاندیز کړی دی چې که چېرې د اسلامي امارت مشرتابه ټولو امارتي ادارو ته سپارښتنه وکړي چې له وطني تولیداتو څخه ګټه واخلي، نو دا به ډېره ښه وي. دا یو پر ځای وړاندیز دی، ځکه تر هغې چې خلک او حکومت دواړه له کورنیو تولیداتو استفاده ونه کړي، په هېڅ صورت کورني تولیدات وده نه شي کولای. که چېرې له کورنیو تولیداتو ګټه پورته شي، نو دا دوې ګټې لري: یوه دا چې د کورنیو تولیداتو کچه به لوړه شي او له دې سره به پانګوال هم وهڅول شي، چې پانګونې ته زړه ښه کړي. دا دواړه کار ه بیا د صنعت د پرمختګ لامل ګرځي. اسلامي امارت دې ټکي ته متوجه دی. د امام ابو حنیفه(رح) په دوهم ملي او نړیوال نندارتون کې د اسلامي امارت ټولو مسوولینو د خپلو ویناوو پرمهال دې ټکي ته اشاره وکړه چې خلک او حکومتي ادارې دې له کورنیو تولیداتو ګټه پورته کړي، څو زموږ کورني تولیدات وده وکړي.

✍ **څلورم**؛ دغه راز یو شمېر خلکو په خپلو وړاندیزونو کې د خپلو سیمو د لارو خرابېدو ته اشاره کړې ده او ویلي دي چې له امله یې خلک له سختو ستونزو سره مخ دي. دوی په دې برخه کې د اسلامي امارت توجه غوښتې ده. اسلامي امارت تل د خلکو نظرونه او وړاندیزونه پام کې نیولي دي. دا چې په هېواد کې د ځینو سیمو لارې خرابې دي، دا یو واقعیت دی، خو اسلامي امارت هم په کراره نه دی ناست، ټوله هڅه یې پر دې ورغونده کړې ده چې د سړکونو او لارو په رغولو سره د خلکو ستونزو ته پای ورکړي. اوسمهال د لویو لارو لکه کابل- کندهار، سالنګونو لویو لارو ترڅنګ په زیاترو ولایتونو کې شته سړکونو د بیارغونې کارونه هم روان دي. که چېرې د هېواد په کچه شته لویې لارې، ولایتونو او له ولایتونو ولسوالیو ته غځېدلې لارې رغول کېږي، نو دا هم امکاناتو، هم بودیجې او هم وخت ته اړتیا لري چې ددې درې واړو برابرول حوصله غواړي.

## پایله

پــه هېــواد کې د بشــپړ امنیت او د یوه واحد نظام رامنځتــه کېدو سره د نورو برخو ترڅنګ په اقتصادي برخو کې هم ښــه فرصتونه رامنځته شوي دي. په دې برخه کې هر ډول نوښت کولای شي د هېواد په اقتصادي ثبات کې مهم رول ولوبوي. اســلامي امــارت دې ټکو ته په پاملرنې سره پــه ملي او نړیواله کچه د هېواد له تولیداتو څخــه د ملاتړ په موخه د نندارتونو جوړولــو تــه مخه کړې ده، څو په کور دننه او له هېواد څخه بهر خپل تولیدات معــرفي کړي او بازار ورته پیدا کړي. تر دې مهاله د اســلامي امارت له لوري په هېواد او له هېواد څخه بهر نندارتونونه جوړ شــوي دي او افغاني محصولات او تولیدات ننداري ته وړاندې شوي دي. ددې نندارتونونو له جملې څخه یو هم د امام ابو حنیفه(رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون و چې د اسلامي امارت په ملاتړ د سوداګرۍ او پانګونې خونې له لوري په کابل کې جوړ شو. ددې نندارتون موخه د افغاني محصولاتــو او تولیداتــو معرفي کول او په دې برخو کې د پانګوالو راجلبول وو. له دې څخه معلومېږي چې اســلامي امارت په ټول توان هڅه کوي چې لومړی خپل تولیدات نړیوالو، پانګوالو او سوداګرو ته معرفي کړي او ورپسې ددې توکو له پاره بــازار پیدا کړي. ددې چارې په ترسره کېــدو سره به افغاني تولیدات زیات او اقتصادي وده به ورسره رامنځته شي. دغه راز به بهر میشــتي پانګوال هم دې ته زړه ښــه کړي چې هېواد ته راســتانه او دلته پانګونه وکړي او له دې سره به د افغانستان په صنعت کې پرمختګ رامنځته او صنعت به د پام وړ وده وکړي.

# ملي تدارکاتو کمېسيون د يو ميليارد افغانيو په ارزښت بېلا بېلې پروژې منظورې کړې



**سريزه:**

هغه هېوادونه چې له جګړو او کړکيچونو څخه راوتلي او نوي د پرمختګ په لور روان وي، حکومتونه يې هڅه کوي چې د سياسي، کلتوري او ټولنيزو برخو ترڅنګ اقتصادي برخې چې د جګړو او ناخوالو له امله يې زيانونه ليدلي دي، بېرته ورغوي. که چېرې موږ د سترو او ملي پروژو ترڅنګ د تدارکاتي پروژو په ګډون متوسطې او کوچنۍ پروژې عملي کړو، نو بيا به زغرده ويلای شو چې موږ د هېواد پرمختګ ته ژمن يوو. اسلامي امارت په همدې فکر او اند خپلې چارې پيل کړې دي او د پروژو د ښه پرمخ بېولو، چټکتيا او په دې برخه کې د روڼتيا په موخه يې د ملي تدارکاتو کمېسيون رامنځته کړی دی.


د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه د روان کال د سرطان مياشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو. د ملي تدارکاتو کمېسيون يادې غونډې ته ۱۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې کړې وې چې له جملې يې د ۱۶ پروژو قراردادونه منظور او د پاتې ۲ وځنډول شول. منظورې شوې پروژې د ملي دفاع وزارت، ماليې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، لوړو زده کړو وزارت، د افغانستان بانک، د افغانستان برېښنا شرکت، کابل ښاروالۍ او د افغانستان د ګاز او نفتو دولتي شرکت اړوند وې، چې ټوليز ارزښت يې شاوخوا يو ميليارد افغانيو ته رسېده. د غونډې په پای کې د ځينو پروژو اړوندو سکټوري وزارتونو او ادارو ته لازمې سپارښتنې وشوې څو په ټاکلي وخت خپلې پروژې د بحث او منظورۍ لپاره ملي تدارکاتو کمېسيون ته راولېږي او په دغه برخه کې ټول تدارکاتي پړاوونه په ښه ډول طی مراحل کړي.

**ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو موخه:**


موخه یې د هېواد بیارغونه، پرمختګ، خلکو ته کار موندل او اقتصادي وده ده.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «ملي تدارکاتو کمېسیون د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**




**د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:**





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې ملي تدارکاتو کمېسیون د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو كې د ياد خبر په اړه د خلكو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو كې د خلكو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه





### راډيوګانې




### ټوېټرپاڼې





### وياندويان





### ورځپاڼې





### اژانسونه



## ویب پاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## ملي تدارکاتو کمېسیون د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. ملي تدارکاتو کمېسیون د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو، ویبپاڼو او ټوېټرپاڼو په گډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. پـه دولتي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او ورانديزونو شـمېر په ټولیـز ډول ۱۰٦۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۰۳ مثبت دي. ۴٦ منفي نظرونه او ۱۸ سالم ورانديزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. ملي تدارکاتو کمېسیون د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ویبپاڼو او خبري اژانسـونو په گډون په خصوصي رسـنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسـنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٦ دی. د دې نظرونو له جملې ٦۰ مثبت، ۴ منفي او ۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۱ ٪، منفي نظرونه ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شـمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسـنیو په پرتله په دولتي رسـنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سـلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۹۱ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ٦ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۲ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰٦۳ مثبت نظرونه، ۵۰ منفي نظرونه او ۲۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۴٪ مثبت نظرونه، ۴٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یـو لامـل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظرونه ورکوي، کوم چــې د هېواد او خلکو دواړو په گټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختگ په لور ځي. ملي تدارکاتو کمېسـیون د یو مېلیارد افغانیو په ارزښـت د بېلا بېلو پروژو منظورېدو خبر هم چې د هېواد بیارغونه او پرمختگ په ډاگه کوي، د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ کېږي او رسنۍ هم هغه خبر چې د خلکـو د علاقــې وړ وي په زیاته کچه خپروي، هر خبر چې ډېر خپور شي طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هــم زیــات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هــر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مورږ یوازې د ګوټو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د وطن د آبادۍ لپاره هڅې د ستایلو دي. الله تعالی دې ورته اوږد عمر، روغ صحت او په ټولو چارو کې کامیابي نصیب کړي.
- له اسلامي امارت څخه غوښتنه کوو او هیله لرو چې کاپیسا او پروان ته هم پراختیایي پروژې منظورې کړي. اسلامي امارت دې د کابل- لوګر د دوهم سړک پروژې پاتې چارې چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په پراختیایي بودیجه کې پیسې ورته په پام کې نیول شوې دي، پیل کړي.
- له اسلامي امارت څخه د افغانستان د خلکو هیله دا ده چې کانونه دې استخراج او زیربناوې دې ورغوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی؛** یو شمېر خلکو په خپلو وړاندیزونو کې له اسلامي امارت څخه غوښتنه کړې ده چې کانونه دې استخراج او زیربناوې دې ورغوي. د دوی نظر پر ځای دی. هر حکومت که غواړي چې هېواد یې پرمختګ وکړي او اقتصاد یې پر خپلو پښو ودرېږي، نو په کار ده چې د عوایدو سرچینې برابرې کړي. اسلامي امارت هم د کانونو او هم د زیربناوو په رغولو کې جدي ګامونه پورته کړي دي. همدا څو ورځې وړاندې ملت ته د حکومت د حساب ورکولو په پروګرام کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور وویل چې تیر کال یې له کورنیو پانګوالو سره د هېواد په ۱۶ ولایتونو کې د کوچنیو کانونو د کیندنې تر ۱۰۰ زیات بېلابېل تړونونه لاسلیک کړي دي. په دغو تړونونو کې د مرمرو، رخام، تراوتین، فلورایټ او د ګڼو نورو کانونو تړونونه شاملېږي. دغه راز د آمو د تیلو حوزې د قشقري بلاک د تېلو د استخراج تړون له یوه چینایي شرکت سره لاسلیک شو چې اوس یې عملا د تېلو د استخراج چارې روانې دي. ددې ترڅنګ د یو شمېر نورو سترو کانونو لکه سربو، اوسپنې او سرو زرو کانونه په قرارداد ورکړل شوي او په نیږدې وخت کې به یې د استخراج چارې پیل شي. دغه راز دوی په خپلو نظرونو کې د زیربنایي پروژو رغولو ته هم اشاره کړې ده. په رښتیا چې د زیربناوو رغول او جوړول ډېر مهم دي. ځکه له زیربناوو پرته نه خو سوداګرې پراختیا موندلی شي او نه هم ترانزیټ چې دا دواړه د عواید په زیاتوالي کې رغنده رول لري. اسلامي امارت په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي چې ښې بېلګې یې په دې وروستیو کې د سالنګونو او کابل- کندهار لویې لارې وې چې د رغونې چارې یې د ریاست الوزارء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري رسماً پرانیستل شوې. د ترانسپورتي زیربناوو ترڅنګ د برېښنا، کرنې، اوبو مدیریت او دې ته ورته نورو برخو زیربناوې هم د رغولو په حال کې دي.

**دویم؛** یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو او وړاندیزونو کې له اسلامي امارت څخه غوښتنه کړې چې د دوی په ولایتونو

کېـ دې هـم پراختیایـي پـروژې منظورې کړي. یو شـمېر نورو خلکو بیا د کابل- لوګر د دوهم سـړک د پاتې چارو د پیل غوښتنه کړې ده چې د ۱۴۰۲ لمریز کال په پراختیایي بودیجه کې ورته پیسې هم ځانګړې شوې دي. اسلامي امارت پـه ټـول هېـواد کـې د بیارغونـې او پراختیایـي پروژو پلي کول په متوازن ډول پیل کړې دي. داسـې نـه ده چې په ځینو ولایتونو کې یې عملي کوي او ځینې یې له یاده ایسـتلي دي. د ټولګټو وزارت ملت ته د حسـاب ورکولو پر مهال وویل چې پـه تېـر کال کـې یـې د هېواد په کچـه ۱۲۵ بېلا بېلې پروژې پلې کړې دي. له دې څخه جوته شـوه چې اسـلامي امـارت هڅـه کـوي چې پـه ټول هېواد کې پراختیایي پروژې عملي کړي، خو ځینې لـه دې امله تر نورو مخکې وي چې اړتیـا یـې زیاتـه وي او په عملي کېدو یې د خلکو سـتونزې هوارې او اقتصـاد وده ورسره کولای شي. دوی ویلي دي چې د کابل- لوګر دوهم سړک پاتې چارې دې پیل شي، دا پر ځای نظر او وړاندیز دی. اسلامي امارت ددې سړک اړتیا ته پـه پاملرنـې سره د ۱۴۰۲ لمریـز کال پـه پراختیایي بودیجه کې پیسـې ورته ځانګړې کړې دي. نو کیدای شي په نږدې راتلونکي کې د یادې پروژې پاتې چارې پیل شي.

✍ **دریېیم**؛ ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هلې ځلې ستایلې دي. په رښتیا هم په ټوله کې د اسلامي امارت مسوولین هڅه کوي چې افغانستان هم له سیاسي پلوه او هم له اقتصادي پلوه د نړۍ د سیالو هېوادونو په کتار کې ودروي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ته چې اقتصادي چارې سـپارل شـوې دي، نو له همدې امله په قوي هوډ خپلې چارې پرمخ بیایي او تل یې په خپلو خبرو کې یوه ټکي ته اشاره کړې ده چې اسلامي امارت په ټول توان هڅه کوي چې افغانستان آباد او د نورو له احتیاجه یې خلاص کړي.

## پایله

واک ته د اســلامي امارت په رسـېدو سره د سرتاسري امنیت رامنځته کېدو ترڅنګ، د فساد ټغر هم ټول شوی دی. د چارو د لا روڼتیا او ښه پرمخ بېولو له پاره یې د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ کړی دی چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه ده. تر دې مهال د کمېســیون له لوري د میلیاردونو افغانیو په ارزښــت لســګونه مهم پروژې منظورې شــوې دي چې پر ځینو یې اوسمهال عملا کار روان دی. ددې کمېسیون په وروستۍ غونډه کې هم د یو مېلیارد افغانیو په ارزښــت ۱٦ پروژې منظورې شــوې. ددې پروژو په عملي کېدو سره به له یوه لوري خلکو ته اسانتیاوې رامنځته، د بې کارۍ کچه به راټیټه او د حکومتي ارګانونو تدارکاتي مسایل به ورسره حل شي.

په تیرو حکومتونو کې د پروژو د نه عملي کېدو یو ســتر لامل په چارو کې نه روڼتیا وه او همدا لامل و چې د پروژو د عملي کېدو مخه یې ډېره کړې وه. خو اســلامي امارت دې ســتونزې ته پای ورکړی دی او دادی اوس عملاً د لسګونو پروژو چارې روانــې دي چــې خلک یې هم هرکلی کوي او هم ددې هیله ورته پیدا شــوې ده چې د اســلامي امــارت تر چتر لاندې به افغانستان ډېر ژر پرمختګ وکړي.

# د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو په جوړېدو سره به برېښنا تولید او کرنه وده وکړي



## سریزه:

اوبه هغه ستر نعمت دی چې الله (ج) د نړۍ د ښکلا او ژوند د بقا لپاره بشر ته ډالۍ کړې ده، ژوند له اوبو او هوا پرته ناشونی دی. د ځمکې درې پر څلورمه برخه له اوبو جوړه ده، خو زیاته برخه یې د ګټې اخیستو وړ نه دي، ځکه تروې دي. کومې اوبه چې خوږې او د ګټې اخیستنې وړ دي هغه ډېرې کمې دي او د ژوند ټولو اړخونو ته حیاتي ارزښت لري، باید ډېره پاملرنه ورته وشي. اسلامي امارت دې اهمیت ته په کتو د اوبو مهارولو او مدیریت لپاره مټې رانغښتې او دې کار ته یې په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی دی. په تېرو دوو لسیزو کې سیاسي او اقتصادي بې ثباتي، اقلیمي بدلون او ورځ تر بلې زیاتېدونکې نفوس هغه لاملونه وو چې افغانستان یې له سختو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره مخ کړی دی، نو اوس اړتیا ده چې د هېواد ځان بسیاینې، ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره اوبه مهار او په دې برخه کې پانګونه وشي. په دې برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د تېر یوه کال په بهیر کې ګوټلي ګامونه اوچت کړي دي. په همدې لړ کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکلو موضوعاتو بحث وشو.


د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ مالیې وزارت، کانونو او پټرولیم وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت او ملي پراختیا شرکت څخه جوړې شوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم مطابق د کانونو په بدل کې د سرپل ولایت د سلطان ابراهیم بند او همدارنګه د ارزګان ولایت د چینارتو ولسوالۍ اړوند د آغا جان بند د جوړولو لپاره عملي تګلاره جوړه او د نهایي تصمیم نیونې په موخه یې د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

## د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو د جوړېدو موخه:


موخه يې د برېښنا تولید او د کرنې سکټور پراختیا او پرمختګ دی. ځکه حکومتونه هڅه کوي دغه دواړه سکټورونه چې د هېواد په پرمختګ او اقتصادي ټیکاو کې رغنده رول لري، په خپلو پښو ودروي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو د جوړېدو» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو د جوړېدو راپور يې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه




### تویټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې





### تلویزیونونه




### راډیوګانې




## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې




### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو په جوړېدو سره به برېښنا تولید او کرنه وده وکړي خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو په جوړېدو سره به برېښنا تولید او کرنه وده وکړي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټویټرپاڼو په گډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۶۱۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۵۶۹مثبت دي. ۳۵ منفي نظرونه او ۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۷ ٪، منفي ۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو په جوړېدو سره به برېښنا تولید او کرنه وده وکړي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۳۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۳۱ مثبت، ٦۴ منفي او ۳۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۰ ٪، منفي نظرونه ۱۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۱ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۷، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۰ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۹ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۲ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۸۰۰ مثبت نظرونه، ۹۹ منفي نظرونه او ۴۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۳٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په گټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختگ په لور ځي. د آغاجان او سلطان ابراهیم بندونو په جوړېدو سره به برېښنا تولید او کرنه وده وکړي، دغه خبر هم د بیارغونې دی چې کولای شي، د کرنې سکتور ته پراختیا ورکړي او برېښنا تولید کړي. هر خبر چې د هېواد پرمختگ پکې نغښتی وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د پرمختگ په برخه کې چې هر گام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرگندوي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د افغانسـتان په تاريخ کې يوازينی نظام د افغانسـتان اسـلامي امارت دی چې راتلونکي نسـل ته به د افغانستان او نړۍ تر منځ د معقول او ضروري تعامل، تحمل او زرين سياست اصول په ميراث پريږدي.
- د کابل ښار د اوسېدونکو د اوبو ستونزه به څه ډول هواره شي، دغه ښار د اوبو له سخت کمښت سره مخ دی.
- د معادنو او طبيعي زېرمو نه په ګټې اخيستنې سره بايد زيربناوې او سترې پروژې ورغول شي.
- د غور ولايت د ګرم آبک بند پاتې چارې دې پيل شي، ددې بند ۳۰ سلنه چارې بشپړې شوې دي.
- نيـک اقـدام دی ان شـاء اللـه ګران افغانسـتان بـه جوړېږي عـام المنفعه پروژې به افغانسـتان له سـيالانو سره سيال کړي.
- د افغانسـتان شـمال ته دې پاملرنه وشي، د آمو سـيند د حيرتان له بندر څخه تيرېږي، خو ددې سـيمې ځمکې د اوبو نشتوالي له امله وچې دي.
- دننګرهار ولايت په خوږيانو ولسـوالۍ سـپين غر په لمن کې دې د اوبو يو بند ورغول شي چې په رغولو سره به يې د ټول د ننګرهار زياترو ولسواليو ځمکې خړوبې شي. دغه راز به ياده ساحه د سيلانيانو لپاره د تفريح کولو يو ښه ځای وګرځي چې له مخې به يې د دولت خزانې ته زيات عوايد ورشي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ يو شـمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د کابل ښـار د اوبو کمښـت سـتونزې ته اشـاره کړې ده او ددې سـتونزې د هواري غوښتنه يې کړې ده. د کابل ښار تر ځمکه لاندې اوبو د کمښت ستونزه په رښتيا هم جدي ستونزه ده. که په سم ډول مديريت نـه شي، کيـدای شي پـه راتلونکي کې يو سـتر سرخوږی جوړ کړي. خو اسـلامي امارت دا سـتونزه له نظره نـه ده غورځولې. د رياسـت الـوزراء اقتصـادي معاونيت له لوري د اقتصادي کميسـيون پـه غونډه کې چې مشري يې د رياسـت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه لري، د پنجشير سيند څخه د اوبو د نل ليکې د غځولو طرحه تاييد شوې ده او هڅه داده چې هر څومره ژر کيدای شي دغه طرحه عملي او د کابل ښاريانو د اوبو د کمښت ستونزه ورسره هواره شي. دغه راز اسلامي امارت تر ځمکه لاندې اوبو د زيات مصرف د مخنيوي په موخه په ښار کې د ژورو څاه ګانو کيندل بند کړي او په ښار کې يې له شته توليدي شرکتونو او کارخونو غوښتي چې د خپلې اړتيا وړ اوبه دې له ښاره بهر له سطحي اوبو پوره کړي.

له دې څخه جوته شـوه چې اسـلامي امارت دا سـتونزه درک کړې ده او په ټول توان هڅه کوي چې ژر تر ژره ورته یوه اسـاسي حل لاره پیدا کړي.

**دویم؛** ځینو خلکو په خپلو وړاندیزونو کې ویلي دي چې د معادنو او کانونو په بدل کې دې زیربناوې او سترې پروژې ورغول شي. د دوی وړاندیـز د قـدر وړ دی، هغـه هېوادونـه چـې طبیعـي زیرمـې لـري، هغه کـولای شي ددې زېرمو پـه عوایدو خپلې زیربناوې او سترې پروژې عملي کړي، پرته له دې چې چا ته د مرستې لاس اوږد کړي. اسلامي امارت مسوولینو په بیا بیا ویلي دي چې دوی هڅه کوي د خپلو کورنیو عوایدو پر مټ هېواد آباد کړي. ځکه په مرستو که یوه هېواد پرمختګ او یا ابادېدلی؛ نو تیر شل کاله خو په مېلیاردونو ډالر افغانستان ته راغلل، خو بنسټیز کار پرې ونه شو، لامل یې دا وه چې مرستې په شرایطو ورکـول کېـږي او خپلـه یـو هېـواد په خلاص مټ نه شي کولای هغه په هغو زیربناوو او سـترو پروژو ولګـوي چې وکولای شي په هېواد کې اقتصادي ټیکاو رامنځته کړي او هېواد د پرمختګ په لور بوځي. اسلامي امارت دې ټکو ته پاملرنه کړې ده او اوس یې ځکه ټول تمرکز پر داخلي عوایدو راغونډ کړی چې له مخې یې کولای شي هغه پروژې او زیربناوې ورغوي چې هېواد مو اړتیا ورته لري او په مرسـته یې کولای شـو هېواد اباد او سـوکاله کړو. په پورتنـي خبر کې چې کوم دوه بندونه یاد شـوي دي، د ارزګان د چینارتو ولسوالۍ د اغاجان بند او د سرپل د سلطان ابراهیم بند، ددې د جوړولو له پاره هم د کانونو عواید په پام کې نیول شوي دي. د اقتصادي کمیسیون له لوري ټاکل شوې کمیټې ته دنده سپارل شوې چې داسې یو تګلاره دې چمتو کړي چې له مخې یې د یوه کان عواید ددې بندونو جوړولو ته ځانګړي شي.

**درېیم؛** خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د آمو سیند چې د حیرتانو بندر څخه تیر شوی، خو ددې سیمې ځمکې اوبه نه لري. همدې ټکي ته د اسـلامي امارت پام شـته او په دې برخه کې یې ګامونه هم پورته کړي دي. ددې ښـه بیلګه د قوش تېپـې د سـتر او مـلي کانـال جـوړول دي. دغه کانال د امو سـیند څخه اوبـه راګرځوي او د بلخ په ګـډون د جوزجان او فاریاب ولایتونو شـاړو دښـتو ته اوبه ورکوي. ددې کانال په جوړېدو سره به چې اوسـمهال یې لومړی فاز په بشـپړېدو دی، ۵۵۰۰۰۰ جریبه آبي او للمي ځمکې خړوبې شي او په دې ولایتونو کې به د کرنیزو ځمکو د اوبو د کمښت ستونزه په بنسټیز ډول پای ته ورسیږي.

**څلـورم؛** یـو شـمېر خلکـو وړاندیـز کړی دی چې د غـور ولایت د ګرم آبک بنـد پاتې چارې دې بشـپړې شي او دغه راز ځینو بیا ویلي چې د ننګرهار ولایت په خوږیانو ولسـوالۍ سـپین غر په لمنو کې دې د اوبو بند جوړ شي. که چیرې دا بند جوړ شي ددې ولایت د زیاترو ولسـوالیو ځمکې به خړوبې کړي. اسـلامي امارت د اوبو د مدیریت او مهارولو په برخه کې جدي او کوټـلي ګامونـه پورتـه کـړي دي. له سـترو کانالونو نیولې بیا تر کوچنیو چک ډېمونو یا بندونـو پورې یې رغولي او پر ځینو یې کار روان دی. خو پر دې یې بسـنه نه ده کړې، ځکه افغانسـتان د خوږو اوبو زیاتې سرچینې لري، اسـلامي امارت هڅه کوي چې له دې سرچینو د کرنې او برېښنا د تولید په برخه کې عظمي ګټه پورته کړي او دغه دوه سکټورونه پر خپلو پښو ودروي. ددې لامـل دادی چـې د هېـواد لـه ۵۰ سـلنې زیات وګړي په کرنه بوخت دي که یې د اوبخور سـتونزه حل شي، نو کیدای شي دا سـلنه زیاته شي او په دې توګه یو زیات شـمیر خلک په دې برخه کې پر کار بوخت شي، ځکه بې کاري په

افغانستان کې یوه معضله ده. بله د برېښنا د تولید مسله ده، دا مهال موږ د خپلې اړتیا وړ تقریبا ۸۰ سلنه برېښنا له بهر څخه واردوو، خو که په افغانستان کې د اوبو په ګډون د برېښنا د شته ظرفیتونو څخه ګټه پورته شي، نو افغانستان به خپله برېښنا بهر ته صادره کړي او له دې درکه به زيات عوايد ترلاسه کړي. دا چې خلک په خپلو ولایتونو کې د بندونو جوړولو وړاندیز کوي، دا یې حق دی، خو اسلامي امارت د دوی دا حق له پامه نه غورځوي او د مسوول حکومت په توګه هڅه کوي چې تږولو ته په هره برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي. ولې حکومتونه هم لومړیتوب هغو کارونو ته ورکوي چې پر مټ یې له یوه لوري د خلکو ستونزې حل شي او له بل لوري هېواد پرمختګ وکړي. که بودیجه او امکانات برابر کړي، نو له شک پرته به هم د غور د ګرم آبک بند پاتې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي او هم به د سپین غر په لمنو کې د اوبو له پاره بند جوړ شي.

## پایله

اوبه او د هغو مدیریت نه یوازې ملي بلکې یو نړیوال لومړیتوب دی. نن ورځ اقتصادي ټیکاو ته د رسېدو له پاره تر ټولو مهمه وسیله اوبه دي. ځکه اوبه د اقتصاد په وده کې رغنده رول لري. د هرې ورځې په تیریدو سره د اوبو مسله په ملي او نړیواله کچه پر یوه مهمه او د بحث وړ موضوع بدله شوې ده. هر هېواد هڅه کوي چې خپلې اوبه په داسې ډول مدیریت او مهار کړي چې هم په کرنه او هم د برېښنا په تولید کې ترې ګټه پورته کړي. نن ورځ هم د کرنې او هم د برېښنا تولید ځکه اړین دی چې یو د صنعتي توکو او بل یې د کرنیزو محصولاتو د تولید په برخه کې مهم فکټورونه بلل کېږي. اسلامي امارت همدې اړتیا او د اوبو ارزښت ته په پاملرنې هڅه پیل کړې ده چې خپلې پریمانه اوبه مهار او په ښه ډول مدیریت کړي. ددې هلو ځلو ښه ثبوت یې همدا د ارزګان د چینارتو ولسوالۍ د اغاجان بند او د سرپل د سلطان ابراهیم بند جوړول دي. دغه دواړه بندونه د برېښنا د تولید ترڅنګ په سلګونو او ان په زرګونو جریبه ځمکې خړوبولو وړتیا لري. د دې بندونو په بشپړېدو سره به له یوه لوري د اوبو د مدیریت او مهارولو په برخه کې یو ګام پورته شي او له بل لوري به د سیمې خلکو ته د کرنې په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي. بله ګټه به یې دا وي چې د بندونو د جوړولو پرمهال به سلګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره او ددې خلکو اقتصادي ستونزې به ورسره هوارې شي.

# ۱.۱.۱ د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه




**سریزه:**

د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک له لوري د ۲۰۲۳ میلادي کال د جولای میاشتې په ۳۱مه نېټه راپور خپور شوی دی. په دې راپور کې د افغانستان په اقتصادي وضعیت کې رامنځته شویو مثبتو پرمختګونو ته اشاره شوې ده. په راپور کې ویل شوي چې د انفلاسیون کچه د تېرو میاشتو په پرتله نوره هم ټیټه شوې، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت لوړ شوی، د خوراکي او غیر خوراکي توکو په بیو کې ټیټوالی راغلی، د حکومت له لوري پر واردېدونکو خوراکي توکو تعرفه کمه شوې، په بانکي سیستم کې پرمختګ شوی او په ځانګړي ډول د سوداګریزو شرکتونو له پاره اسانتیاوې رامنځته شوې دي، کاري فرصتونه زیات شوي، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه هم زیاته شوې، د دولتي کارکوونکو معاشونه په وخت ورکړل شوي او باکیفیته روغتیایي خدمتونه خلکو ته وړاندې شوي دي.

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري د یاد راپور په اړه په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي، اسلامي امارت هغه راپورونه چې د افغانستان د نورو برخو ترڅنګ د اقتصادي وضعیت په اړه مثبت او له واقعیتونو ډک وي، ستایي او پر دې باور دي چې د هېواد د اقتصادي وضعیت په تړاو چې کوم مثبت مسایل په راپور کې رانغاړل شوي دي، دا یو واقعیت دی او دغه ډول باید ټول ترسره شوي پرمختګونه نړۍ ته په ډاګه او له پامه ونه غورځول شي.

د افغانستان اسلامي امارت پر دې باور دی چې که نړیواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه، بندیزونه لرې او د افغانستان کنګل شوې شتمني آزاده کړي، نو افغانستان به د نورو برخو ترڅنګ په اقتصادي برخه کې په بشپړ ډول پرمختګ وکړي. دغه راز د افغانســتان اسـلامي امارت له ټولو نړیوالو سـازمانونو غواړي چې د افغانسـتان په اړه نړۍ ته هغه پرمختګونه په ډاګه کړي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره په افغانسـتان کې رامنځته کېږي؛ په دې سره به نړۍ د افغانسـتان پر واقعي وضعیت او دلته له ترسره شویو پرمختګونو څخه خبره شي.


د افغانستان اسلامي امارت له نړیوال بانک څخه غواړي چې د افغانستان په اړه د واقعیتونو د خپرولو تر څنګ، هغه پروژې چې د دې سازمان له لوري تمویلېدې او اوس یې کارونه نیمګړي پاتې دي، بېرته پیل او چارې یې بشپړې کړي.

## د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې موخه:


موخـه یـې داده چـې اسـلامي امارت هغه راپورونه چې د افغانسـتان د نـورو برخو ترڅنګ د اقتصـادي وضعیت په اړه مثبت او له واقعیتونو ډک وي، سـتایي او پر دې باور دی چې د هېواد د اقتصادي وضعیت په تړاو چې کوم مثبت مسـایل په یاد راپور کې رانغاړل شـوي دي، دا یو واقعیت دی او دغه ډول باید ټول ترسره شـوي پرمختګونه نړۍ ته په ډاګه او له پامه ونه غورځول شي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه » یې خپره کړې ده:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپره کړې ده.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### تویټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




## تلویزیونونه




## راډیوګانې




## ویب پاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

## تلویزیونونه




## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## آژانسونه





## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، ویب پاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۷۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۹۱ مثبت دي. ٦٦ منفي نظرونه او ۲۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۰ ٪، منفي ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه د نړیوال بانک راپور په تړاو د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت اعلامیې په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۲۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۰۸ مثبت، ۹۰ منفي او ۳۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۲ ٪، منفي نظرونه ۲۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۰، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۲ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۱ او په دولتي هغو کې بیا یوازې ۸ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰۹۹ مثبت نظرونه، ۱۵۶ منفي نظرونه او ۵۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۴٪ مثبت نظرونه، ۱۲٪ منفي نظرونه او ۴ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د نړیوال بانک راپور او په اړه یې د اقتصادي معاونیت اعلامیه هم د هېواد د اقتصادي وضعیت پر ښه کېدو راڅرخي . د نړیوال بانک په راپور کې د افغانستان اقتصادي وضعیت د پرمختګ او ودې په اړه واقعیتونه منعکس شوي دي. هر خبر او اعلامیه چې د هېواد پرمختګ پکې نغښتې وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د پرمختګ په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- موږ د اسلامي امارت پر کارنامو ویاړو، نړیوال مو پرمختګونو ته ګوته په غاښ دي، په لومړیو کې خو د هېچا ذهن ته دا نه لوېده خو اوس حیران دي چې په دومره لنډ وخت کې یې دومره پرمختګ څنګه وکړ، الله ج مو تل سرلوړي لره.
- نړۍ دې د افغانستان ګنګل شوې پیسې خوشې کړي، بیا دې وګوري چې اقتصاد مو څومره پرمختګ کوي.
- که چېرې پر افغانستان لګول شوي بندیزونه او محدودیتونه لرې شي، نو وضعیت به له دې هم بهتره شي.
- د یو ښه اقتصادي حالت لپاره باید زموږ صادرات تر وارداتو زیات وي، که نه مساوي خو باید وي، چې په دې برخه د اسلامي امارت هڅې د ستایلو دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې په ټوله کې ددې اعلامیې هرکلی کړی دی. یو شمیر یې ویلي چې اسلامي امارت په دې لنډه موده کې ډېر پرمختګونه کړي دي او دې پرمختګونو نړیوال هم حیران کړي دي. په ریښتیا هم که چېرې موږ د نړیوالې ټولنې له لوري لګول شویو بندیزونو او دغه راز د امریکا له لوري د افغانانو شتمنۍ کنګل کېدو ته وګورو، نو تر دې مهاله چې کومې سترې پروژې په افغانستان کې پلې شوې دي، د حیرانۍ خبره څکه ده چې تېرو حکومتونو دا ډول پروژې د میلیاردونو ډالرو په موجودیت کې نه دي عملي کړې، خو اسلامي امارت بیا د خپلو کورنیو عوایدو پرمټ داسې بنسټیزې پروژې عملي او پیل کړې او د ځینو یې لا کار روان دی چې کولای شي، افغانستان په هره برخه کې پر خپلو پښو ودروي. د کرنې، برېښنا، صنعت، د کانونو د استخراج، صادراتو، سوداګرۍ، زیربنا او داسې نورو برخو کې تر دې مهاله د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي دي. همدا لامل دی چې نړیوال نور نه شي کولای پر هغو پرمختګونو چې په دې لنډه موده کې د اسلامي امارت له لوري ترسره شوي دي، سترګې پټې او هغه له پامه وغورځوي. په یاده اعلامیه کې هم اسلامي امارت له نړیوالې ټولنې غوښتي چې که چېرې پر افغانستان لګول شوي بندیزونه لرې او کنګل شوې پیسې ازادې شي، نو دغه پرمختګونه به له دې هم ښه وي.

- **دویم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د یوه ښه اقتصاد له پاره اړینه ده چې د صادراتو کچه تر وارداتو لوړه وي. د دوی دا نظر پر ځای دی. هر حکومت باید هڅه وکړي چې د خپلو صادراتو کچه لوړه کړي. دغه کچه هغه مهال لوړېږي چې په کور دننه د تولیداتو اندازه زیاته شي. خو دا تولیدات او محصولات باید په نړیوالو معیارونو برابر وي، که چېرې په معیار برابر توکي تولید شي، نو طبیعي خبره ده چې هغه به بیا د نړۍ نورو هېوادونو ته صادرېږي، څکه تقضا به ورته زیاته وي. افغانستان هم که غواړي چې د صادراتو کچه یې له وارداتو لوړه وي، نو باید پر نړیوالو معیارونو برابر باکیفیته توکي تولید او بهر ته یې صادر کړي. اسلامي امارت په خپل ټول توان هڅه کوي چې صنعت ته وده ورکړي او له صنعتکارانو یې تل یوه هیله داده چې خپل تولیدات له نړیوالو معیارونو سره سم په باکیفیته ډول تولید کړي. دوهم دا چې اسلامي امارت نړیوالو ته د خپلو تولیداتو د معرفي کولو له پاره په هېواد کې دننه او له هېواده بهر نندارتونونه جوړ کړي دي. ددې نندارتونونو څخه یو یې په هېواد کې دننه د امام ابو حنیفه رح دوهم ملي او نړیوال نندارتون و او بل په دې وروستیو کې په قزاقستان کې د نندارتون جوړول و. په دې دواړو نندارتونونو کې د هېواد بېلا بېل صنایع نندارې ته وړاندې شول او نړیوالو ته ور وپېژندل شول. دا ډول نندارتونونه یوازې د هېواد د تولیداتو د معرفي کېدو او هغو ته د بازار موندنې په موخه جوړېږي. که چېرې موږ لکه اوس چې د خپلو تولیداتو ملاتړ کوو او صنعتکاران هم په پوره اخلاص خپل تولیدات وکړي، نو بیا دا لرې نه ده چې په لنډ وخت کې به د افغانستان د صادراتو کچه تر وارداتو لوړه او اقتصاد به مو غښتلی شي.

## پایله

د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره په افغانستان کې یو پیاوړی مرکزي حکومت رامنځته شوی دی. د هر حکومت دنده داده چې د هېواد پرمختګ تضمین کړي. اسلامي امارت داسې مهال واک ته ورسېد چې د افغانستان اقتصاد له ننګونو سره مخ و. ددې ترڅنګ چې اقتصادي حالت مخ پر ځوړ و، نړیوالې ټولنې ددې پر ځای چې له افغانستان سره مرسته وکړي، برعکس پر افغانستان یې بندیزونه ولګول. تر ټولو مهمه د افغانانو هغه شتمني وه چې په امریکا کې کنګل شوه. خو سره له دې هم اسلامي امارت وتوانېد چې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ ته لار هواره کړي او تر ډېره حده په دې برخه کې بریالی شو. اسلامي امارت پر دې بریالی شو چې اقتصاد ورغوي، بانکي سیستم له پاشلو وژغوري، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ثبات وساتي، تر یوه بریده د بېکارۍ کچه را کمه کړي، سترې او زېربنایي پروژې پیل او د اوبو د مدیریت او بربښنا د تولید په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي چې دا ټول د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل وګرځېدل. ددې څخه دا جوته شوه چې اسلامي امارت د سیاسي برخې ترڅنګ په اقتصادي برخه کې هم کره او دقیق پلانونه لري، چې په عملي کېدو سره به یې اقتصاد لا وغوړېږي. دا چې لا هم د افغانستان د بندیزونو او د کنګل شوې شتمنۍ برخلیک څرګند نه دی، که چېرې بندیزونه لرې او د افغانانو شتمني ازاده شي، نو بیا په پوره یقین سره ویلای شو چې د هېواد اوسني پرمختګونه به دوه برابره شي او افغانان به د نړۍ د نورو ملتونو په څېر سوکاله او ارامه ژوند ولري.

# د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرح تایید شوه



**سریزه:**


هــر حکومــت هڅه کــوي چې د هېواد د ســیاسي پرمختګ په څوا کې خپــل اقتصاد هم په پښــو ودروي. ځکه اقتصاد د پرمختګ او ترقۍ بنسټ دی، تر څو چې اقتصاد غښتلی نه وي، هېڅ سکتور وده نه شي کولای او نه هغه هېواد د پرمختګ په لور حرکت کولای شي. اســلامي امارت د اقتصاد محوره سیاســت په غوره کولو سره دې برخې ته پوره پاملرنه کړې ده. ددې لړۍ په برخه کې یې دا دی اوس د ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو له پاره مټې رانغښتې دي. د ریاست‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېســیون نوبتــي غونډه د روان لمریز کال د اســد میاشــتې په ۱۴مه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره ســم پر ټاکلو موضوعاتو بحث وشــو. په یاده نوبتي ناســته کې تر هر اړخیز بحث وروسته د افغانســتان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرحه د اقتصادي کمېسیون د غړو وزارتونو د نظرونو په پام کې نیولو سره تایید شــوه. د افغانســتان ملي اقتصادي مشورتي بورډ به د اړتیا پر وخت د مهمو اقتصادي موضوعاتو په اړه حکومت ته اړینې مشــورې ورکوي. په دغه بورډ کې به د افغانســتان د پوهنتونونو اســتادان، د اقتصادي مسایلو متخصصین او همداراز د سوداګرو او صنعت‌کارانو استازي غړیتوب ولري.

## د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرحې د تایید موخه:

موخه یې داده چې اســلامي امارت غواړي په اقتصادي برخو کې د متخصصو کســانو ســلا مشورې په پام کې ونیسي او پر مټ یې اقتصادي پلانونه په مسلکي او پرمختللي ډول عملي او پلي کړي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د مزارشریف- هرات- کندهار ترمنځ د اوسپنې پټلۍ پروژې د لومړنیو کارونو د پیلېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


## الف: دولتي رسنۍ:




## ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرحې خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### ټویټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې





### تلویزیونونه




### راډیوګانې



## ویب پاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### آژانسونه




### ویب پاڼې




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرحه تایید شوه خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره برېده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د افغانســتان ملي اقتصادي مشــورتي بورډ د جوړېدو طرحه تایید شــوه خبر په اړه د تلویزیونونــو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، وېب پاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۵۱۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۸۹ مثبت دي. ۱۸۶ منفي نظرونه او ۴۳ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي. مثبت نظرونه ۸۵ ٪، منفي ۱۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. د افغانســتان ملي اقتصادي مشــورتي بورډ د جوړېدو طرحه تایید شــوه خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او خبري اژانســونو په ګډون په خصوصي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رســنیو کې د خلکــو مثبتــو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر پــه ټولیز ډول ۸۵۰ دی. د دې نظرونو لــه جملې ۵۳۷ مثبت، ۲۵۸ منفي او ۵۵ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي دي. مثبت نظرونه ٦۳ ٪، منفي نظرونه ۳۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۵، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ٦۳ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۳۰ او په دولتي هغو کې بیا ۱۲ ده. که په دولتي او خصوصي رســنیو کې مثبت، منفي نظرونه او ســالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۸۲٦ مثبت نظرونه، ۴۴۴ منفي نظرونه او ۹۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۷٪ مثبت نظرونه، ۱۹٪ منفي نظرونه او ۴ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یــو لامــل یې دادی چې خلک د هغــو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکــوي، کوم چې د هېواد او خلکــو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د افغانســتان ملي اقتصادي مشــورتي بورډ د جوړېدو طرح تایید شوه خبر کې هم اقتصادي مســایلو ته پام شــوی دی او ددې بورډ پر مټ به اقتصادي پروګرامونه لا غښــتلي او پیاوړي شي. هر خبر چې د هېــواد پرمختګ پکې نغښــتي وي، ډېــر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبــت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي چې د هېواد د پرمختګ په برخه کې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- دا د افغانستان لپاره ښه زیری دی. د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ د جوړېدو طرحه د اقتصادي کمېسیون د غړو وزارتونو د نظرونو په پام کې نیولو سره تاییدېدل، ستایوو، د هېواد د علمي کادرونو له سلا مشورو ګټه اخیستل، د ستونزو یوازینۍ حل لار ده. اسلامي امارت دې دا پالیسي تعقیب کړي.
- د کابل ښار د اوبو د کموالي ستونزې په هکله هېڅ پلان او برنامه نشته، ددې ستونزې غم دې وخوړل شي.
- هیلـه ده چـې دا بـورډ جـوړ او سـلا مشـورو تـه یـې ارزښـت ورکړل شي. د سـوکاله، سـوله ییـز او پر خپلو پښـو ولاړ افغانستان په هیله.
- دا ډېره مهم او حیاتي موضوع ده، دا کار باید پخوا ترسره شوی وای، خو اوس هم اوبه له ورخه تیرې نه دي.
- که په ټولو برخو کې دې ته ورته بورډونه جوړ شي، ډېر مشکلات به ورسره حل شي.
- د لوګر ولایت ښاروالۍ او ځینو نورو ولایتونو ښاروالیو د ودانیزو کارو مخه نیولې ده چې دا د خلکو په کار ډېر تاثیر لري، ځکه که ودانیز کارونه پیل شي؛ نو ډېرو خلکو ته به کار پیدا شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ خلکو په خپلو نظرونو کې په ټوله کې د افغانسـتان ملي اقتصادي مشـورتي بورډ د جوړېدو هرکلی کړی دی. دوی په خپلو نظرونو کې د دا ډول بورډ جوړېدل مهم بللي دي او ویلي دي چې له دې سره به د اقتصاد په برخه کې نور پرمختـګ هـم رامنځتـه شي. اسـلامي امارت هم غـواړي چې د اقتصاد په برخه کې ترسره شـوي پرمختګونه نور هم چټک کړي. په همدې موخه یې د افغانستان ملي اقتصادي مشورتي بورډ جوړېدو ته مخه کړې ده چې اوس یې طرحه تایید شوه او هڅـه کـوي چې پـه نږدې راتلونکي یاد بورډ په عملي ډول په خپلو کارونو پیل وکړي. د دې بورډ په جوړېدو سره به چې غړي یې ټول د اقتصاد برخې کارپوهان دي، د اقتصاد په برخه کې ټول هغه پلانونه چې د اقتصاد د پیاوړتیا او غښـتلي کېـدو لـه پـاره اړیـن دي، لومړی چمتو او بیا به عملي بڼه خپله کړي. کلـه چې دا پلانونه عملي شي، نو د اقتصاد په برخه کې د ترسره شویو پرمختګونو ترڅنګ به دغه خوځښت دوه برابره شي او افغانستان به په اقتصادي ډګر کې پوره وځلېږي.

✍ **دویم**؛ یو شمېر خلکو بیا په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې دا بورډ دې ژر تر ژره جوړ شي او د بورډ د غړو سلا مشورو ته دې ارزښت ورکړل شي. طبیعي خبره ده چې د بورډ د غړو سلا مشورو ته به ارزښت ورکول کېږي، ځکه دا بورډ اسلامي امارت د دې له پاره جوړوي چې د اقتصاد پرمختګ له پاره د اقتصاد د برخې د متخصصینو سـلا مشـورې ترلاسـه کړي او کومې نیمګړتیاوې او ستونزې چې په دې برخه کې شته، هغو ته په بشپړ ډول پای ورکړي. اسلامي امارت تل هڅه کړې ده چې په هره برخه کې د مسـلکي کسـانو له تجربو ګټه پورته کړي. همدا اوس چې کومې سـترې، متوسـطې او کوچنۍ پروژې عملي کېږي، په دې ټولو کې هغه کسان کار کوي چې مسلکي دي. د اسلامي امارت موخه داده چې د هرې برخې له مسـلکي کسـانو څخه په خپله برخه کې اسـتفاده وکړي او د هغوی د سـلا مشـورو سره سم خپلې چارې پرمخ بوځي. د اسلامي امارت مسوولینو تل په خپلو خبرو کې ویلي دي چې د حکومت پرمخ بېولو له پاره مسلکي کسانو ته اړتیا ده. ان له هېواده بهر چې کوم مسلکي کسان ژوند کوي، بیا بیا یې بلنه ورکړې ده او ترې غوښتي یې دي چې هېواد ته راستانه شي او د خپل هېواد په بیارغونه او پرمختګ کې ونډه واخلي.

✍ **درېیم**؛ یو شمیر کسانو په خپلو نظرونو کې د کابل ښار د څښاک د اوبو کموالي ستونزې ته اشاره کړې ده. دوی ویلي چې ددې سـتونزې د پای ته رسـولو له پاره دې اقدام وشي. نظر یې د قدر وړ دی، خو خبره داده چې اسـلامي امارت دا ستونزه له پامه نه ده غورځولې. د کابل ښار د څښاک د پاکو اوبو برابرولو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې پر دې ستونزې بحث شوی دی او ددې ستونزې د پای ته رسولو له پاره د پنجشیر سیند څخه د اوبو د نللیکې غځولو طرحه تایید شوې ده. د بودیجې او امکاناتو د برابرېدو په صورت کې به دغه طرحه عملي او د کابل ښاریانو د څښاک د پاکو اوبو ستونزه به هواره شي. ددې ترڅنګ اسلامي امارت د کابل ښار تر ځمکه لاندې اوبو د کچې لوړېدو په موخه په ښار کې د ژورو څاه ګانو پر کیندلو بندیز لګولی دی. دغه راز په ښار کې د صنعتي فابریکو او شرکتونو څخه په کلکه غوښتل شوي دي چې دوی دې د خپلې اړتیا وړ اوبو

چمتو کولو په موخه له ځمکې لاندې اوبو څخه ګټه نه پورته کوي، بلکې خپلې د اړتیا وړ اوبه دې له ښاره بهر له سطحي اوبو پوره کړي. دا ددې ښکارندويي کوي چې اسلامي امارت ددې ستونزې د له منځه وړلو له پاره لاس په کار شوی دی او هڅه کوي چې په لنډ وخت کې دې ستونزې ته پای ورکړي.

✍ **ځلورم؛** ځینې خلکو وړاندیز کړی دی چې په ولایتونو کې د ښاروالیو له لوري ودانیزې چارې بندې شوې او اجازه نه ورکول کېږي. که چېرې اجازه ورکړل شي، نو ډېری خلکو ته به د کار زمینه برابره شي. د دوی وړاندیز پر ځای دی، ځکه په رښتیا هم که په ولایتونو کې ودانیزې چارې پیل شي، په مستقیم او غیر مستقیم ډول زیاتو خلکو ته د کار زمینه برابرېدای شي. خو مسله دا ده چې ښاروالیو له دې امله ودانیزې چارې درولې دي، چې په دې برخه کې ځینې ستونزې شته دي. د بېلګې په ډول ځینې لوړپوړې ودانۍ له ښاري ماسټر پلان سره سمې نه دي ودانې شوې او ځینې یې بیا پر داسې ځمکو جوړې شوې دي، چې هغه پوره نه دي تثبیت شوې. دغه راز ځینې ودانۍ د انجنیرۍ په معیارونو برابرې نه دي ودانې شوې، نو ځکه خو ښاروالیو ددې ډول ودانیزو چارو مخه نیولې ده، څو دا ستونزې هوارې او بیا د کار اجازه ورکړل شي.

## پایله:

اسلامي امارت هڅه کوي چې د حکومتولۍ چارې په مسلکي او معیاري ډول پرمخ بوځي. ددې چارو د پرمخ بېولو له پاره اړینه ده چې مسلکي او په کار پوه خلکو سلا مشورې واخلي او بیا له هغه سره سم پرمخ ولاړ شي. په دې برخه کې یې لومړی اقدام دادی چې اوس غواړي ملي اقتصادي مشورتي بورډ جوړ کړي. دغه بورډ چې د امیر المؤمنین شیخ القران و الحدیث مولوي هبة الله اخوند(حفظه الله) له فرمان سره سم جوړېږي، ټول به هغه کسان وي چې مسلکي او په کار پوه وي. ددغو کسانو څخه د اقتصادي پروګرامونو په برخه کې سلا مشورې اخیستل کېږي او دغه راز د دوی په مرسته اقتصادي طرحې چمتو او بیا به عملي کېږي.

له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت غواړي کوم پرمختګونه چې د اقتصاد په برخه کې تر دې مهاله شوي دي، ددې بورډ په جوړېدو سره یې لا چټک او پراخ کړي. له دې سره به له یوه لوري اقتصادي چارې چټکې شي او له بل لوري به د اقتصاد په برخه کې شوي پرمختګونه دوه برابره شي. کله چې اقتصاد غښتلی شي؛ نو بیا ددې زمینه برابرېږي چې هېواد مو په هره برخه کې پرمختګ وکړي او افغانستان د نورو له احتیاجه خلاص او د خپلواک اقتصاد څښتن شي.

# د شهر نو پارک د بیارغونې چارې پیل شوې



**سریزه:**

پارکونه د ښارونو د رامنځته کېدو له مهاله بیا تر اوسه ځانګړی اهمیت لري، خو سره له دې په ښارونو کې د ښاري ماسټر پلان په سم ډول نه عملي کېدو له امله د ښار یو شمېر اوسېدونکي له اهمیت ډک دې ځایونو څخه بې برخې پاتې شوي دي. پارکونه له بېلا بېلو اړخونو پر ښاري ژوند اغېزه درلودلې ده. ځکه پارکونه د چاپېریال خوندي ساتلو، ښکلا او د تفریحي اړتیاوو پوره کولو په خوا کې د ښاریانو له پاره روغتیایي او اقتصادي ګټې هم لري. پارکونه د عوایدو سرچینې دي او کولای شي د ملي عوایدو په زیاتوالي کې اغېزناک رول ولوبوي. د پارکونو همدې اهمیت ته په کتو اسلامي امارت د هېواد په بېلا بېلو سترو ښارونو کې د تفریحي پارکونو رغولو ته مخه کړې ده چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې د شهر نو پارک رغول دي.


په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۵مه نېټه د کابل شهر نو پارک د بیارغېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. شهرنو پارک ۹.۹ هکټاره مساحت لري چې د خصوصي سکټور له لوري د شاوخوا ۱.۲ میلیارده افغانیو پانګونې سره د ۳ کلونو په موده کې په اساسي ډول رغول کېږي. د شهرنو پارک د بیارغونې په پلان کې تر ځمکه لاندې سوداګریز مرکز، د پارک په څنډه کې سوداګریز کمپلکس، د ښځینه‌وو لپاره ځانګړی سوداګریز مرکز، د فوټسال لوبغالی، تفریحي ځایونه، رستورانتونه، مسجد، د لامبو حوض او د موټرو لپاره پارکېنګ په نظر کې نیول شوي چې د جوړېدو پر مهال به یې سلګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

## د شهر نو پارک د بیارغونې چارې پیل کېدو موخه


موخه یې داده، چې اسـلامي امارت غواړي خلکو ته د تفریح له پاره ځایونه برابر کړي او هم له دې لارې خپل ملي عواید زیات کړي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د شهر نو پارک د بیارغونې چارو د پیل» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ:



### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونـه:** پـه دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه ښـودل کېږي چې د شـهر نـو پـارک د بیارغونـې چـارو د پیل خـبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلكو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلكو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه




### ټوېټرپاڼې





### وياندويان





### ورځپاڼې




### تلويزيونونه




### راډيوګانې



## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د شهر نو پارک د بیارغونې چارو د پیل خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره برېده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د شــهر نــو پارک د بیارغونې چــارو د پیل خبر په اړه د تلویزیونونــو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانســونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونــو شــمېر په ټولیــز ډول ۱۱۱۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۱۲ مثبت دي. ۷۱ منفي نظرونه او ۲۸ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۱ ٪، منفي ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. د شهر نو پارک د بیارغونې چارو د پیل خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۱۵۷۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۰۲ مثبت، ۲۷۸ منفي او ۱۹۲ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۰ ٪، منفي نظرونه ۱۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۲ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۱، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۰ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۲ او په دولتي هغو کې بیا ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۱۱۴ مثبت نظرونه، ۳۴۹ منفي نظرونه او ۲۲۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۹٪ مثبت نظرونه، ۱۳٪ منفي نظرونه او ۸ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د شهر نو پارک د بیارغونې چارو د پیل خبر هم د پرمختګ په اړه دی. هر خبر چې د هېواد پرمختګ پکې نغښتی وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د هېواد د پرمختګ په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- په هېواد کې هر ډول آبادي باید په نېک فال ونیسو، خو هیله ده چې د کابل د شهر نو پارک نقشه د ښار جوړولو له معیارونو سره سمه چمتو شوې وي، څو د پلازمېنې دا شنه ساحه له منځه ولاړه نه شي.
- موږ باید شپه او ورځ د وطن خدمت ته ځان چمتو کړو، د خلاصون لار مو د ولس خدمت دی، ولس ته باید د کار روزګار زمینه برابره شي او له سرمایه دارانو څخه وغوښتل شي چې راشي او دلته پانګونه وکړي.
- هر ښار شنې ساحې ته اړتیا لري، نو شنې ساحې باید پر سوداګریزو مرکزونو بدلې نه شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د ښارونو پارک جوړولو پروژې پرانیسته په نیک فال نیولې، خو ددې ترڅنګ یې ویلي دي چې ددې پارک د جوړولو نقشه باید له ښاري اصولو سره سمه چمتو شي. هو دا خبره پر ځای ده، ځکه که چېرې د نورو ودانیو په جوړولو سره د پارک شنه ساحه له منځه ځي نو دا بیا د خلکو پر روح او روان ناوړه اغېزه کوي. خو اسلامي امارت دا پروژه یوه خصوصي شرکت ته ورکړې ده، ولې نقشه یې د ښاروالۍ له لوري تر نظر تېره شوې ده او پکې ټول ښاري اصول په پام کې نیول شوي دي. داسې نه ده چې ګنې د دې پارک ټخه شنه ساحه په بشپړ ډول له منځه وړل کېږي، له نیمایي څخه هم په کمه برخه کې سوداګریز مارکېټونه جوړېږي او پاتې برخه یې شنه ساحه ده او هغه به تر رغونې وروسته بېرته په خپل حال پاتې کېږي.

✍ **دویم**؛ ځینو خلکو نظر ورکړی دی چې وطن ته دې چې خدمت وشي، هېوادوالو ته دې د کار زمینه برابره شي او له پانګوالو دې وغوښتل شي چې راشي او دلته پانګونه وکړي. د دوی دا نظر پر ځای دی. هېواد او هېوادوالو ته خدمت د حکومت مسوولیت دی. اسلامي امارت دا مسوولیت درک کړی دی او له راتګ سره یې د هېواد د پرمختګ او هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرولو لـه پـاره هلې ځلې کړې دي. په هېواد کې یې ټولې هغه پروژې پیل کـړې دي چې کولای شي د هېواد د پرمختګ او هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرولو لامل وګرځي. دغه راز اسـلامي امارت د پانګونې له پاره زمینه برابره کړې او پانګوالو ته یې خوندي چاپېریال رامنځته کړی دی. د اسلامي امارت مسوولینو په وار وار پر هغو افغان پانګوالو غږ کړی چې په هېواد کې دننه دي او یا هم له هېواده بهر دي. د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې هېواد ته د خپل سـفر پر مهال په یاد هېواد کې د مېشـتو افغان سـوداګرو او پانګوالو له لوري په رابلل شـوې غونډه کې ګډون وکړ او له دې پانګوالو او سـوداګرو یې وغوښـتل چې اوسـمهال په افغانستان کې پانګونې ته زمینه برابره شوې او تاسو کولای شئ له کومې ستونزې پرته دلته پانګونه وکړئ. اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې موږ او تاسو باید په ګډه خپل هېواد جوړ کړو او هېوادوالو ته خدمتونه وړاندې کړو. نو له دې معلومه شوه چې اسلامي امارت د هېواد د آبادۍ او هېوادوالو ته د کاري زمینې برابرولو په لټه کې دی او تر دې مهاله یې په دې برخه کې ښې لاسته راوړنې درلودلې دي.


✍ **درېیم**؛ یو شمېر هېوادوالو وړاندیز کړی دی چې ښارونه شنو ساحو ته اړتیا لري او دا ساحې باید په سوداګریزو مرکزونو بدلې نه شي. په ښـارونو کې شـنې سـاحې یا پارکونه هغه ځایونه دي چې د خلکو په روح او روان زیاته مثبته اغېزه لري. زیاتره خلک خپل فارغ وخت په پارکونو کې تېروي او د ماشومانو د ذهني ودې له پاره دا تفریحي ځایونه زیات ګټور دي. ددې ګټـو ترڅنـګ پارکونـه د ښـار د عوایـدو په زیاتوالي کې هم مهـم رول لري، ځکه دا هغه ځایونـه دي چې عواید لري. اسـلامي امارت دا هر څه ته متوجه دی. د شـهر نو پارک داسـې نه رغول کېږي چې شـنه ساحه یې په بشپړ ډول له منځه ځي، بلکې د پارک په یوه څنډه کې دغه مرکزونه جوړېږي او پارک به یوازې رغول کېږي او په ښـکلا کې به یې زیاتوالی راځي.

## پایله

شنه او ښکلې فضا یوه الهي پیرزوینه ده چې پر بشر او نورو موجوداتو یې لورولې. د داسې ساحې شتون په ځانګړي ډول ښارونو کې، پر بدني روغتیا سربېره د رواني او روحي ارامتیا لامل هم ګرځي. شنې ساحې یا پارکونه د چاپېريال ساتنې، ښکلا، تفریحي اړتیاوو برابرولو په څېر د بېلا بېلو اړخونو په څنګ کې د هغو کسانو له پاره چې وخت لري، د خپل وخت تېرولو له پاره ښه فرصت برابروي. اسلامي امارت دې ټکو ته په پاملرنې سره هڅه کړې ده چې د هېواد د بېلا بېلو ولایتونو په مرکزونو او سترو ښارونو کې تفریحي پارکونه د اړوندو ښاروالیو له لوري ورغول شي او خلکو ته د تفریح زمینه برابره کړي.

کابل ښار هم یو له هغو لویو ښارونو څخه دی چې د ښاري ماسټر پلان سره سم، د ښار په بېلا بېلو برخو کې شنې ساحې او پارکونه لري. د دې پارکونو زیاتره یې په هغه ډول نه دي رغول شوي چې کوم ډول ورته اړتیا ده. کابل ښاروالۍ اوسمهال د ښار د ښکلا له پاره لومړی د دې ښار زیاتره څلور لارې په ښکلې بڼه رغولې دي چې د ښار ښکلا یې دوه برابره کړې او ترڅنګ یې شته پارکونو ته هم پاملرنه اړولې ده. زیاتره پارکونه او یا هم د سړکونو په منځ کې شته ګلدانونه یې رغولي او په ګلونو او چمنونو یې ښکلي کړي دي. د شهر نو پارک هم د کابل ښار یو پارک دی. د دې له پاره چې یاد پارک په اساسي ډول ورغول شي، د رغونې چارې یې یوه خصوصي شرکت ته سپارلې دي. په دې پارک کې به د شنې ساحې ترڅنګ سوداګریز مارکېټونه، د لوبو له پاره ځای او د لامبو له پاره حوض او د موټرو پارکېنګ جوړ شي. له دې سره به له یوه لوري د کابل ښاریانو ته د تفریح له پاره ځای پیدا شي او له بل لوري به په یاد پارک کې د سوداګریز مارکېټ په جوړولو سره ددې پارک عواید دوه برابره شي.

# د غوریانو د اوسپنې او تولک د سرپو کانونو شرکتونه اعلان شول



**سریزه:**

کانونــه د طبیعي سرچینو هغه برخه ده چې تر ځمکې لاندې دي او اقتصادي ارزښــت يې زیات دی. افغانســتان بېلابېل کانونه لري چې ارزښت يې شاوخوا درې ټریلیون ډالرو ته رسېږي. پر کانونو ولاړ اقتصاد په افغانستان کې د اقتصاد رغولو له پاره يوه محدوده ټاکنه ګڼل کېږي. د افغانســتان د کانونو په اړه ترسره شــوې څېړنې ښــيي چې افغانســتان د فلزاتو، صنعتي منرالونو او ودانیزو توکو پراخې سرچینې لري چې دا مهال يې په زیاترو هغو کار روان دی او ځینې اوس په قرارداد ورکول کېږي. له دې جملې څخه د هرات ولایت د غوریانو د اوسپنې کان او د غور د تولک ولسوالۍ د سرپو کان دی چې د استخراج او پروسس ګټوونکي شرکتونه يې اعلان شول.

د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د څلورو بلاکونو او همدا راز د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان د يو بلاک د قراردادونو منظوري چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله آخوندزاده (حفظه الله) له لوري ورکړل شــوې ده، د افغانستان اســلامي امارت د اقتصادي کمېسیون په لارښوونه د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري آزادې داوطلبۍ ته وړاندې شــوي وو، چې د هر اړخېزې او شــفافې پروســې له ترسره کېدو وروســته يې لاندې شرکتونه ګټونکي اعلان شول:

۱ـ وطن درخشــان شرکت چې آذاران صنعتي ســازه ایراني شرکت يې ۷۰ سلنه ونډوال دی، د ٦۴.٦ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د لومړي بلاک ګټونکی دی.

۲ـ ساحل شرق میانه شرکت چې دره نور افغاني شرکت او ایپکول ترکي شرکت يې هر يو ۱۵ سلنه ونډوال دي، د ٦۱ نمرو

په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د دوهم بلاک ګټونکی دی.

۳ـ شمش ملي شرکت چې GBM او AD Resources انګلستاني شرکتونه یې ۳۵ سلنه ونډوال دي، د ٦٨.٥ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د درېیم بلاک ګټونکی دی.


۴ـ باختر فولاد شرکت چې احیای سپاهان او پارسیان ایراني شرکتونه یې ۴۹ سلنه ونډوال دي، د ٦٠.٥٠ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د څلورم بلاک ګټونکی دی.د یادو بلاکونو ګټونکي شرکتونه به له بهرنیو شرکتونو سره به په ګډه دغه بلاکونه په مسلکي ډول استخراج او پروسس به یې په کور دننه ترسره کوي. د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان له څلورو بلاکونو څخه د یو بلاک ګټونکی افغان انوېسټ شرکت دی چې دوی ته په قرارداد ورکول کیږي. ددې کان عواید به په عام‌المنفعه پروژو کې په مصرف رسیږي، چې ډېره برخه به یې په کور دننه د برېښنا تولید او ورسره اړوند چارو ته ځانګړې کیږي. د دې کانونو د داوطلبۍ او قرارداد تفصیلي معلومات وخت پر وخت د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له دفتر سره هم شریک شوي دي.

## د غوریانو د اوسپنې او تولک د سرپو کانونو ګټونکو شرکتونو د اعلان موخه

موخه یې داده چې اسلامي امارت غواړي تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې راوسپړي او پر مټ یې خپل اقتصاد ورغوي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د غوریانو د اوسپنې او تولک د سرپو کانونو د ګټونکو شرکتونو د اعلان» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسـنیو کې د خلکو نظرونو سـلنه ښودل کېږي چې د غوریانـو د اوسـپنې او تولـک د سرپـو کانونـو ګټونکې شرکتونـه اعلان شـول، خبر یې پـه ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټوېټرپاڼې





#### ویاندویان





#### ورځپاڼې




## تلویزیونونه




## راډیوګانې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


## تلویزیونونه




## راډیوګانې




## ویبپاڼې





## آژانسونه





## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د غوریانو د اوسپنې او تولک د سرپو کانونو ګټونکي شرکتونه اعلان شول، خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره برېده رسـمي- حکومتي مسوولین او د سـیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د غوریانو د اوســپنې او تولک د سرپو کانونو ګټونکي شرکتونه اعلان شــول خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانســونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۱۴۸۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۴۱۵ مثبت دي. ۵۳ منفــي نظرونــه او ۲۱ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۳ ٪ او ســالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د غوریانو د اوســپنې او تولک د سرپو کانونو ګټونکي شرکتونه اعلان شــول خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانســونو په ګډون په خصوصي رســنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رســنیو کې د خلکــو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیــز ډول ۳۲۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۶۱ مثبت، ۴۳ منفي او ۲۲ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شــوي دي. مثبت نظرونه ۸۰ ٪، منفي نظرونه ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۰ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سـلنه لوړه ده، په خصوصي رسـنیو کې د منفي نظرونو سـلنه ۱۳ او په دولتي هغو کې بیا ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسـنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سـالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱٦٧٦ مثبت نظرونه، ۹٦ منفي نظرونه او ۴۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۲٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسـنیو په پرتله په دولتي رسـنیو کې د مثبتو نظرونو سـلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یـو لامـل یې دادی چې خلک د هغـو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکـوي، کوم چې د هېواد او خلکـو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د غوریانو د اوسـېدونکو دا تولګ د سرپو کانونو ګټونکي شرکتونه اعلان شـول خبر هم د پرمختګ په اړه دی. هر خبر چې د هېواد پرمختګ پکې نغښـتي وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبـت نظرونه هم زیات وي. لـه دې څخه جوتېږي، چې د هېواد د پرمختګ په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- ددې کانونو په عوایدو باید بنیادي کارونه وشي چې افغان ولس د تل لپاره د پردیو له احتیاجه خلاص شي.
- ډېر نېک اقدام دی له دې سره به له یوه لوري اقتصاد پیاوړی شي او له بل لوري به د بې وزلو خلکو له پاره د کار زمینه برابره شي.
- ددې کانونو پیسـې باید د غور- هرات د سـړک په جوړولو ولګول شي، ځکه دا لویه لار چې څو ولسـوالۍ یو له بل سره نښلوي، په بشپړ ډول ویجاړه شوې ده او تګ راتګ کې خلک له ستونزو سره مخامخ دي.
- تر ټولو مهمه مسله داده چې د کانونو په سکټور کې څارنه او روڼتیا موجوده وي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي چې د کانونو څخه ترلاسه شوي عواید دې په بنسټیزو پروژو ولګول شي، څو افغانستان پر خپلو پښو ودرېږي او د پردیو له احتیاجه خلاص شي. په رښتیا هم هېڅ هېواد د نورو په مرسته نه آباد شوی او نه یې هم خلک له احتیاجه خلاص شوي دي. موږ او تاسو که تیرو شلو کلونو ته وګورو چې افغانستان د امریکا له لوري اشغال شوی و او په مېلیاردونو ډالر د مرستې په نوم افغانستان ته راغلل، خو ولې هېڅ داسې بنسټیز کار ونه شو چې هغه دې د افغانانو په درد وخوري. زیربناووې جوړې نه شوې، بنسټیزې پرژوې عملي نه شوې، د برېښنا په برخه کې چې یوه اساسي اړتیا ده هېڅ کار ونه شو، کرنه او صنعت خو پر ځای پرېږده. اوس چې اسلامي امارت راغلی دی، د اقتصادي ټیکاو په برخه کې یې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. زیاته هڅه یې داده چې له خپلو شته طبیعي منابعو څخه ګټه پورته کړي او د افغانستان اقتصاد له دې لارې په خپلو پښو ودروي. د بنسټیزو پرژو د پیل تر څنګ یې په مسلکي ډول د کانونو استخراج ته مخه کړې ده او ترې دې مهاله یې شاوخوا ۲۰۰ ستر، متوسط او کوچني کانونه په قرارداد ورکړي او عملاً یې د استخراج چارې روانې دي. د اسلامي امارت مسوولینو بیا بیا ویلي دي چې د کانونو عواید به پر هغو پروژو او زیربناوو لګول کېږي چې کولای شي افغانستان له هره پلوه خودکفا او د پردیو له احتیاجه یې خلاص کړي. پوره ډاډمن اوسئ چې اسلامي امارت شعار نه بلکې هر څه چې وایي په عمل کې یې پیاده کوي. نو ددې کانونو عواید به هم پر هغو پروژو او زېربناوو لګول کېږي، کومې چې د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا له پاره لار پرانیزي.

**دویم**؛ ځینو خلکو په خپلو نظرونو کې ددې کانونو په قرارداد ورکولو له امله خوښي ښودلې ده او ویلي دي چې له دې سره به له یوه لوري اقتصاد پیاوړی شي او له بل لوري به خلکو ته د کار زمینه برابره شي. په رښتیا هم په افغانستان کې بې کاري یوه ستره ستونزه ده. اسلامي امارت د بې کارۍ ستونزې ته د پای ورکولو له پاره ګامونه پورته کړي دي. د لویو لارو بیارغونه، د کانونو استخراج او د بندونو ترڅنګ د اوبو د کانالونو پروژې یې پیل کړې دي، چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. په یادو کانونو کې به هم خلکو ته د کار زمینه برابره شي او په عوایدو یې به یې یو لړ نورې بنسټیزې پروژې پیل شي. ددې پروژو په بشپړېدو سره به د هېواد اقتصاد وده وکړي او ګڼو کسانو ته به د کار زمینه هم برابره شي. اسلامي امارت د خلکو اقتصادي ستونزو ته پاملرنه کړې ده او هڅه یې داده چې د بې کارۍ ستونزې ته په بشپړ ډول د پای ټکی کېږدي.

**دریيم**؛ خلکو وړاندیز کړی دی چې د هرات د اوسپنې او د غور د سرپو کانونو عواید دې د غور - هرات د لویې لارې په جوړېدو ولګول شي، ځکه دا لاره زیاته خرابه ده او خلک یې له ستونزو سره مخ کړي دي. د دوی وړاندیز پر ځای دی، خو خبره داده چې اسلامي امارت تل په خپلو خبرو کې ویلي دي چې د کانونو عواید پر هغو پروژو لګوي، کومې چې کولای شي د هېواد اقتصادي ټیکاو ته ګټه ورسوي. سړک رغول هم اړین دي، خو اسلامي امارت په متوازن ډول پرمختیایي چارې پرمخ بیایي او پر دې سړک به هم د بودیجې او امکاناتو برابرېدو په صورت کې کار پیل کړي. همدا اوسمهال د هېواد په زیاترو سترو او کوچنیو سړکونو عملاً کار روان دی، نو د غور - هرات سړک هم یو مهم سړک دی او اسلامي امارت د هغو

سړکونو رغونې ته لومړیتوب ورکوي چې کولای شي د سوداګرۍ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي.

✍ **څلورم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د کانونو د استخراج په برخه کې روڼتیا ته اشاره کړې ده. د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې اداري فساد په بشپړ ډول له منځه تللی دی. اوسمهال نه یوازې د کانونو د استخراج په برخه کې روڼتیا موجوده ده بلکې په هر برخه کې فساد ته اجازه نه ورکول کېږي او نه هم څوک دا جرأت کولای شي. اسلامي امارت د ټولو کانونو د استخراج قراردادونه د آزادې داوطلبۍ له لارې په قرارداد ورکړي دي. هېڅ شی یې پټ نه دي پرېښي. نو موږ او تاسو هم باید پوره ډاډه واوسو چې په دې برخه کې بشپړ شفافیت شته او د اندیښنې کومه خبره نشته.

## پایله

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې پرېمانه طبیعي زېرمې لري، زموږ هېواد د باکیفیته طبیعي زېرمو له امله یو شتمن هېواد او نړیوال شهرت لري. که چېرې له دغو زېرمو څخه ګټه پورته شي، نو افغانستان به د یوه غوره او پرمختللي اقتصاد څښتن واوسي. دغه راز له طبیعي زېرمو او د کانونو استخراج د هېواد د خودکفایۍ لامل ګرځي او په اقتصادي وده کې د پام وړ ارزښت لري، د افغانستان کانونه د هېواد د عوایدو ستره سرچینه جوړوي، داسې معادن په افغانستان کې شته چې زیاتره هېوادونه هڅه کوي چې پر هغو پانګونه وکړي او استخراج یې کړي. هر هېواد د خپلو اقتصادي اړتیاوو پوره کولو له پاره اړ دی چې له بېلا بېلو لارو څخه په ګټې اخیستنې دا اړتیاوې پوره کړي، لکه پراختیایي پروګرامونه، د زېربناوو جوړول، زده کړې، امنیتي پروګرامونه، سوداګریزې پروژې، ودانیزې چارې، روغتیایي چارې او داسې نور دا ټولې پیسو او بودیجې ته اړتیا لري. افغانستان چې د کانونو او طبیعي زېرمو له پلوه یو بډای هېواد دی؛ نو د کانونو په استخراج سره کولای شي د دې ډول پروګرامونو پر مخ بېولو له پاره پیسې پیدا کړي. اسلامي امارت دې ټکي ته په پاملرنې سره پر دې توانیدلی دی چې تر دې مهال شاوخوا د ۲۰۰ بېلا بېلو کانونو د استخراج قراردادونه وکړي او عملي چارې یې پیل کړي. کورنیو او بهرنیو شرکتونو ته د هرات د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې د څلورو بلاکونو او د غور د تولک ولسوالۍ د سرپو کان یو بلاک قرارداد د دې خبرې ښه ثبوت دی. اسلامي امارت په پام کې لري چې د دې او نورو کانونو عواید پر هغو پروژو ولګوي چې کولای شي اقتصادي پرمختګ رامنځته او افغانستان د یوه خپلواک اقتصاد څښتن وګرځوي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ترکیې هېواد ته سفر وکړ



**سریزه:**

افغانستان له کلونو راهیسې له بحران، جګړې او بهرني یرغل سره لاس او ګریوان دی، دې ناخوالو نه یوازې دا چې د هېواد اقتصاد له ننګونو سره مخ کړی دی، بلکې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې یې هم افغانستان له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. کله چې امریکا په افغانستان کې ماتې وخوړه، نو اسلامي امارت له نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د سیاسي اړیکو ترڅنګ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو ټینګولو او مثبت تعامل ته مخه کړه. هڅه یې داده چې اقتصادي اړیکې پراخې کړي. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د زمري په ۱۷مه نېټه د یوه دولتي پلاوي په مشرۍ ترکیې هېواد ته سفر وکړ.


په دغه سفر کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکیې بهرنیو چارو له وزیر هاکان فیدان، د ترکیې د بهرنۍ سوداګرۍ بورډ (DEIK) له رئیس نایل اولپک او د سوداګرۍ له وزیر عمر بولات سره وکتل. دغه راز یې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس او د افغانستان د سوداګرۍ او صنعت خونې او د ترکیې د صنعت‌کارانو او سوداګرو د غیر دولتي ټولنې موسیاد (MUSIAD) له لوري په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له یادو چارواکو سره پر دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو او دغه راز په افغانستان کې د پانګونې له پاره د شته فرصتونو په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې چې د چارواکو له لوري په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې د ترکي پانګوالو د هڅونې ډاډ ورکړل شو. په همدې ډول د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په جوړو شویو غونډو کې له افغان او ترکي پانګوالو وغوښتل چې دا مهال افغانستان د پانګونې له پاره خوندي دی او پانګوال له کومې ستونزې پرته کولای شي پانګونه وکړي.

## ترکيي هېواد ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د سفر موخه:


موخه يې داده چې اســلامي امارت غواړي د ګاونډيو، ســيمې او نړۍ هېوادونو سره د ســياسي اړيکو ترڅنګ اقتصادي او سوداګريزې اړيکې پراخې او له دې لارې د کورنيو پانګوالو په ګډون بهرني پانګوال په هېواد کې پانګونې ته وهڅوي.

## په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «ترکيي هېواد ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال سفر» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**يادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسـنيو کې د خلکو نظرونو سـلنه ښودل کېږي چې د رياسـت الوزراء اقتصادي مرسـتيال ترکيي هېواد ته د سـفر، خبر يې پـه ويډيويي، غږيـزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### ټویټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې





### تلویزیونونه





### ویب پاڼې



## راډيوګانې





## په دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ويبپاڼې




### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ترکیې هېواد ته د سفر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنـې په مانا ده. د دې مسـلې ارزونه او خپرول خلکـو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شـبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانسـتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسـبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسـمي- حکومتي مسوولین او د سـیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسـمي اشـخاصو او بنسټونو تر پوښـښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ترکیې هېواد ته د سفر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، ویبپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شـمېر په ټولیز ډول ۷۱۴۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۶۲۶۹ مثبت دي. ۶۲۷ منفي نظرونه او ۲۴۵ سـالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شـوي. مثبت نظرونه ۸۸ ٪، منفي ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال ترکیې هېواد ته د سـفر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونـو او وړاندیزونـو شـمېر په ټولیـز ډول ۲۴۱۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۵۶۰ مثبت، ۶۱۴ منفي او ۲۳۷ سـالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۶۵ ٪، منفي نظرونه ۲۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۰ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۸، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۶۵ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو

سـلنه لوړه ده، په خصوصي رسـنیو کې د منفي نظرونو سـلنه ۲۵ او په دولتي هغو کې بیا ۹ ده. که په دولتي او خصوصي رسـنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سـالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۷۸۲۹ مثبت نظرونه، ۱۲۴۱ منفي نظرونه او ۴۸۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۲٪ مثبت نظرونه، ۱۳٪ منفي نظرونه او ۵ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال ترکیې هېواد ته سـفر هم د پرمختګ یوه نښه ده. هر خبر چې د هېواد پرمختګ پکې نغښـتی وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. لـه دې څخـه جوتېږي، د هېواد د پرمختګ په برخه کې چې هـر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- حاجي ملا صاحب که په ترکیه کې د افغان کډوالو سـتونزې د ترکیې له مسـوولینو سره شریکې کړي، ښـه به وي، ځکه په دې هېواد کې افغان کډوال له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان دي.
- ترکیه کې چې څومره مېشـت افغان سـوداګر دي، که هغوی د ترکیې پر ځای افغانسـتان کې پانګونه وکړي، ډېره به ښه وي.
- د نـړۍ نـور هېوادونـه هېڅکلـه زموږ پر ملت زړه نه سـوځوي، ښـه داده چې مـوږ خپله لاس په کار شـو، نړۍ یوازې ننداره کوي.
- د ترکیې سفر د ټولو افغانانو لپاره د هوساینې راوستو او د هېواد د اقتصادي بحران د پای ته رسېدو سفر دی.
- د سیمې په ځانګړي ډول د ترکیې له سوداګرو او پانګوالو هیله کوم چې په افغانستان کې د رامنځته شوي امنیت څخه په استفادې دې په دغه هېواد کې پانګونه وکړي، په ډاډ سره ویلای شم چې دا مهال په هېواد کې فساد له منځه تللی او د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره شوې ده.
- پانګـوال خـو یـوازې پانګونـه کوي، ولې کاري ځواک دی چې هېواد د پرمختګ پـه لور بیایي، خو له بده مرغه چې اوسمهال دغه کاري ځواک له هېواده په وتو دی.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ په ټوله کې خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي چې دا سفر به مثبتې پایلې ولري. له دې جملې یو شمیر خلکو بیا په ترکیه کې د مېشتو افغان کډوالو ستونزو ته اشاره کړې او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند څخه یې غوښتي چې په یاد هېواد کې د مېشت افغان کډوالو ستونزې دې له ترکي چارواکو سره مطرح کړي، څو ددې کډوالو ستونزې هوارې شي. هر دولت د خپل ملت پر وړاندې مسوولیت لري چې په کور دننه او بهر کې د خپلو هېوادوالو ستونزې له منځه یوسي. اسلامي امارت هم د یوه مسوول دولت په توګه تل هڅه کړې ده چې د خلکو ستونزې واوري او بیا ورته وړ حل لاره پیدا کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر پر مهال د دې هېواد د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي هاکان فیدان سره لیدنه کې په ترکیه کې د مېشت افغانانو ستونزې یادې کړې دي. په دې کتنه کې دواړو لوریو د دوه اړخیزو مناسباتو، سوداګری، سیمه‌ییز اتصال او دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه د بحث ترڅنګ د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکیې له هېواد څخه غوښتنه وکړه چې په دې هېواد کې له مېشتو افغان مهاجرینو سره ښه سلوک وکړي. دا په دې مانا ده چې د اسلامي امارت مسوولین په هېڅ صورت خپل ملت او خپل هېوادوال له یاده نه باسي او تر څو یې چې وس رسېږي، هڅه کوي چې ستونزو ته یې پای ورکړي.

✍ **دویم**؛ یو شمیر کسانو په خپلو نظرونو کې ویلي چې دا مهال په افغانستان کې بشپړ امنیت ټینګ شوی دی او د پانګونې له پاره ښه زمینه برابره ده، دوی په ترکیه کې له د مېشت افغان پانګوال غوښتي چې د ترکیې پر ځای دې په افغانستان کې پانګونه وکړي. په رښتیا هم چې د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې سرتاسري امنیت ټینګ شوی، فساد له منځه تللی او اوسمهال د پانګونې له پاره زمینه برابره شوې ده. د کورنیو پانګوالو ترڅنګ بهرني پانګوال هم کولای شي دلته پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په ترڅ کې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې وویل، چې په افغانستان کې د واحد مرکزي نظام په راتلو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیانو ته هم د پانګونې زمینه برابره شوې، چې ښه بېلګه یې د هرات د غوریانو په معدن کې له افغانانو سره د اروپایي او آسیایي پانګوالو په مشارکت د قراردادونو ترلاسه کول او پانګونه ده. له دې څخه معلومه شوه چې د اسلامي امارت مسوولین هم هڅه کوي چې پانګوال په افغانستان کې پانګونې ته وهڅوي. که چېرې په ترکیه کې مېشت افغان او ترکي پانګوال افغانستان کې په بېلا بېلو سکټورونو کې پانګونه وکړي، نو له شک پرته چې د افغانستان ډېری سکټورونه به پرمختګ وکړي، د اقتصادي ټیکاو ترڅنګ به په هېواد کې زرګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي. د اسلامي امارت موخه همدا ده چې هېواد پرمختګ وکړي او وګړي یې هوسا او سوکاله ژوند ولري.

✍ **درېیم**؛ یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د نړۍ نور هېوادونه هېڅکله زموږ پر ملت زړه نه سوځوي، ښه داده چې موږ خپله لاس په کار شو، نړۍ یوازې ننداره کوي. د دوی نظر د قدر وړ دی، ځکه دا یو واقعیت دی، په نړۍ

کې هر هېواد چې پرمختګ کړی دی او یا اوس د پرمختګ په حال کې دي، دوی د نورو په مرستو او همکاریو دې ځای ته نه دي رسېدلي، بلکې دوی خپله لاس په کار شوي دي او شپه ورځ یې یوه کړې، له خپلو شته امکاناتو او فرصتونو یې اعظمي ګټه پورته کړې ده او بیا د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېدلي دي. پر افغانستان د امریکا له یرغل وروسته دې هېواد ته مېلیاردونه ډالر راغلل، خو موږ تاسو یې پایله وینو چې په هېواد کې هېڅ داسې بنسټیز کار ونه شو چې هغه دې ددې ځوریدلي ملت درد ته دوا شي. دا ددې ښه بېلګه ده چې نړیوال د نورو کور نه جوړوي، بلکې د نورو په شتمنیو خپل کور او هېواد جوړوي. په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې دا مهال د هېواد د پرمختګ او ترقۍ له پاره چټک ګامونه پورته کېږي. اسلامي امارت مسوولینو په وار وار په خپلو خبرو کې ویلي دي چې موږ او تاسو باید په ګډه کار وکړو، نورو ته په تمه نه شو، له خپلو شته امکاناتو او فرصتونو ګټه پورته کړو او دا هېواد د نورو له احتیاجه خلاص کړو.

✍ څلورم؛ یو شمیر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې له هېواد څخه د ځوانانو وتلو ته په اشارې ویلي چې پانګوال خو یوازې پانګونه کوي، ولې کاري ځواک دی چې هېواد د پرمختګ په لور بیایي، خو له بده مرغه چې اوسمهال دغه کاري ځواک له هېواده په وتو دی. د اسلامي امارت دې ټکي ته پام شته. هڅه یې کړې چې ځوانانو او مسلکي کسانو ته د کار زمینه برابره کړي. همدا اوس د دولتي ماموریت تر څنګ زیاتره زیربنایي پروژې پیل دي چې لسګونو زرو کسانو ته پکې د کار زمینه برابره شوې ده. دغه راز د شاوخوا ۲۰۰ کانونو د کیندنې کار روان دی چې په دې برخه کې هم زرګونه کسان په کار بوخت دي. اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې او هڅه کوي کاري فرصتونه زیات کړي، څو خلکو ته د کار زمینه برابره شي او په ناقانونه لارو بهر ته د خلکو په ځانګړي ډول ځوان کهول مخه ونیسي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته سفر وکړ او هلته یې له سوداګرو او پانګوالو سره خبرې ټولې پر دې راټولې وې چې سوداګر او پانګوال په افغانستان کې پانګونې ته وهڅوي. کله چې په افغانستان کې پانګونه وشي، نو بیا به د هېوادوالو په ځانګړي ډول ځوانانو له پاره کاري فرصتونه لا زیات او له هېواد څخه به ددې بشري ځواک د وتلو مخه هم ونیول شي.

## پایله

د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره په افغانستان کې یو پیاوړی مرکزي حکومت رامنځته شوی دی. د هر حکومت دنده داده چې د هېواد پرمختګ تضمین کړي. اسلامي امارت وکولای شول چې اقتصادي حالت له نزولي څخه صعودي طرف ته بوځي. سوداګري پراخه او پر مټ یې د عوایدو کچه لوړه کړي. مالیاتي سیستم فعال او پر وخت او شفاف ډول مالیې راغونډې کړي. همدا لامل دی چې په هېواد کې تر ډېره بریده اقتصادي ثبات رامنځته شوی دی. دادی اوس نړیوال سازمانونه هم په دې اعتراف کوي چې د اسلامي امارت له واکمنېدو راهیسې اقتصاد ښه شوی دی. دوی په خپل راپور کې کاږلي چې د خوراکي توکو او نفتي موادو بیې ټیټې شوې، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت ثابت پاتې شوی، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه زیاته شوې، د دولتي کارمندانو معاشونه پر وخت ورکړل شوي، په هېواد کې دننه د خوراکي توکو تولید لوړ شوی او له بانکونو څخه د پیسو په ایستلو کې اسانتیاوې رامنځته شوې دي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت په خپلو کارونو کې بریالی دی. که چارې همداسې مخ ته ولاړې شي، نو لرې نه ده چې افغانستان به ډېر ژر پرمختګ وکړي او وګړي به یې د هوسا او ارام ژوند مزه وڅکي.

# د نوي کابل پروژې د لومړي فاز د دوهمې برخې چارې پیل شوې



**سریزه:**

د نوي کابل پروژې د جوړېدو طرح د افغانســتان د مېلیونونو وګړو د ســتونزو له هواري او د هغوی له هیلو او امیدونو سره تړلې ده. ځکه د ورځ تر بلې زیاتیدونکي نفوس له کړکېچ څخه د وتلو، د ښاري هستوګن‌ځایونو او زېربناوو نشتوالی، د بې کارۍ زیاتوالی او په اوسني کابل ښار کې د چاپېریال د ککړتیا له امله دې ته اړتیا وه چې یو نوی ښار جوړ شي. څېړنو دا په ډاګه کړه چې اوسني کابل ښار کې نفوس زیات دی، د دې له پاره اړینه ده چې د همدې ښار په شاوخوا کې یو بل نوی ښــار جوړ شي، څو په اوســني ښار کې د ګڼې ګوڼې مخه ونیول شي او له ښــاري اصولو سره سم خلک خپل ژوند ته دوام ورکړي. په همدې خاطر اسلامي امارت د نوي کابل ښار د جوړېدو چارې چټکې کړې دي.

په دې وروســتیو کې د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نوي کابل پروژې د لومړي فاز د دوهمې برخې پروژې د جوړېدو چارو د پیل په پرانیســت‌غونډه کې ګډون او وینا وکړه. محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د اسلامي امارت مشران ژمن دي چې افغانستان له سیالانو سره ســیال کړي او په دې لاره کې نه ســتړې کېدونکې هڅې کوي، چې د دې پروژې پیل یې ښــه بېلګه ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرســتیال زیاته کړه، د نوي کابل پروژه د هېواد په کچه د خصوصي ســکټور او اسلامي امارت تر منځ د مشارکت یوه ســتره ملي پروژه ده چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې ښــه زمینه برابروي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د نوي کابل پروژه کې د ژوند ټولې اســانتیاوې شــته، چې په بشپړېدو سره به یې له اوسني کابل ښار څخه نوي کابل ته د نفوسو


انتقال پیل، په اوسني ښار کې به ګڼه ګوڼه راکمه او د ترافیکي پېښو مخنیوی به وشي. د نوي کابل پروژه د اوسني کابل ښار یو نیم برابر لویه ده، چې د ۳۷۰ زره جریبه مساحت په درلودو سره په څلورو فازونو کې ډیزاین شوې ده. د یادې پروژې د لومړي فاز چارې په ۵ برخو کې په پام کې نیول شوې چې د دوهمې برخې د جوړېدو چارو پرانیسته یې وشوه. دغه برخه په ۷۴۰ جریبه ځمکه کې ډیزاین شوې، چې ۱۲ زرو کسانو لپاره به پکې ۲۳۰۰ هستوګنیز کورونه جوړ شي. د نوي کابل پروژې د لومړي فاز دوهمې برخې چارې د کور او ښـــار جوړولو وزارت تر نظارت لاندې د خصوصي ســاختماني شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي او زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابروي.

**د نوي کابل د لومړي فاز د دوهمې برخې د چارو پیلېدو موخه:**


موخه یې داده چې کابل ښار پراختیا پیدا کړي او ددې ترڅنګ د پانګونې له پاره هم زمینه برابره شي. ځکه په نوي کابل ښار کې د استوګنې د کورونو ترڅنګ صنعتي پارکونه او کرنیزې ځمکې هم شته دي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د نوي کابل د لومړي فاز د دوهمې برخې د چارو د پیلېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د نوي کابل د لومړي فاز د دوهمې برخې چارې پیل شوې، خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه




#### ټویټرپاڼې





#### ویاندویان




#### ویب پاڼې



### تلویزیونونه





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### آژانسونه



## ورځپاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د نوي کابل د لومړي فاز د دوهمې برخې د چارو پیلېدو خبر خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رســنیو او ټولنیزو شــبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنــې په مانا ده. د دې مســلې ارزونه او خپرول خلکــو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شــبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانســتان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېســبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رســمي- حکومتي مسوولین او د ســیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رســمي اشــخاصو او بنسټونو تر پوښــښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د نــوي کابــل پروژې د لومړي فــاز د دوهمې برخې د چارو پیلېدو خبر په اړه د تلویزیونونــو، ویاندویانو، ویبپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفــي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۱۷۱۴ دی. د دې نظرونو له جملــې ۱۵۸۱ مثبت دي. ۹۹ منفي نظرونه او ۳۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۲ ٪، منفي ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د نوي کابل د لومړي فاز د دوهمې برخې چارې پیل شوې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شــمېر په ټولیز ډول ۵۱۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۲۰ مثبت، ٦۷ منفي او ۲٦ ســالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۲ ٪، منفي نظرونه ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۲، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۲ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو

سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۳ او په دولتي هغو کې بیا ٦ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۰۰۱ مثبت نظرونه، ۱٦٦ منفي نظرونه او ٦۰ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰٪ مثبت نظرونه، ۷٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې خلک د هغو خبرونو په اړه مثبت نظر ورکوي، کوم چې د هېواد او خلکو دواړو په ګټه وي او له مخې یې هېواد د پرمختګ په لور ځي. د نوي کابل پروژې د لومړي فاز د دوهمې برخې د چارو پیلېدو خبر هم د پرمختګ په اړه دی. هر خبر چې د هېواد پرمختګ پکې نغښتي وي، ډېر خپرېږي او طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د هېواد د پرمختګ په برخه کې چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نوي افغانستان معمار دی، په عمر دې برکت، د نن او راتلونکي نسل سترګې همده ته اوړي.
- نوی ښار باید داسې یو عصري ښار ورغول شي چې د افغانانو برم، عظمت او فرهنګي وړتیا پکې په روښانه ډول څرګنده شي.
- په پخواني حکومت کې زورواکي، غله او قوماندانان وو چې ځمکې یې غصبولې او له وېرې یې څوک د نوي کابل پر سړک هم نه شوای تېرېدلای. د ګران افغانستان د ابادۍ او سمسورتیا په هیله.
- په رښتیا هم ددې پروژې پیل یو نیک کار دی، په پیلېدو به یې زموږ زیاتو هېوادوالو ته یوه ګوله ډوډۍ پیدا شي او دغه راز به په ښار کې د ګڼې ګوڼې مخه هم ونیول شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د کابل نوی ښار باید داسې ورغول شي چې د افغانانو برم، عظمت او فرهنګي وړتیا پکې له ورایه ښکاره شي. ښارونه د تمدنونو، د ملتونو د عظمت او فرهنګ ښکارندوی دي. ډېری هغه ښارونه چې د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ په بېلا بېلو سیمو کې ودان شوي او اوس د تاریخ پاڼو ته سپارل شوي دي، د همدې ملتونو د پرمختګ، د هغوی د فرهنګ، وړتیاوو او ټولنیز ژوند ترجماني کوي. که چېرې اوسنی ښارونه له نننۍ ټکنالوژۍ او معمارۍ سره سم ورغول شي، نو بیا راتلونکي نسلونه د خپلو نیکونو د پرمختګ، فرهنګ او ټولنیز ژوند په اړه قضاوت کولای شي او د هغوی له تجربو څخه د خپل ژوند په پرمخ بیولو کې ګټه پورته کولای شي. اسلامي امارت له تاریخ څخه خبر دی او د هېواد د ابادۍ او رغولو په برخه کې چې کوم کارونه دا مهال ترسره کوي، په دې اړه به راتلونکي نسلونه ضرور قضاوت کوي او دا به وایي چې زموږ نیکونو د خپل هېواد د سمسورتیا او پرمختګ له پاره څومره سترې لیدلې دي. ددې ترڅنګ به په دې ابادیو کې د افغانانو برم، عظمت او فرهنګي وړتیاوې او د دوی ټولنیز ژوند ټول ووینې.

✍ **دویم**؛ یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې د کابل پخوانۍ ادارې ته په اشارې سره ویلي دي چې هغه مهال زورواکي، غله او قوماندان فعال وو او ټولو یې ځمکې غصبولې، د نوي کابل ښار زیاتره ځمکې د همدې کسانو له لوري غصب شوې وې او ددې ښار د رغولو چارې یې ټکنۍ کړې وې. دا یو واقعیت دی چې د کابل په تیره اداره کې زورواکۍ او خپلسرۍ زیاتې وې، د زرورو له خوا دولتي ځمکې څه چې ان شخصي ځمکې هم غصب شوې دي. دې خلکو په حکومت کې لوړ موقفونه درلودل او د حکومت زور نه پرې رسېده، هر څه یې چې زړه غوښتل هغه یې کول. په هېواد کې د نوي کابل ښار په څېر ډېرې پروژې د همدې خلکو له لوري ځنډول شوې وې، خو اوس په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې یو واحد مرکزي نظام رامنځته شوی دی او د زورواکۍ او خپلسرۍ مخه یې نیولې ده. همدا لامل دی چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بیارغونې چارې په چټکۍ سره روانې دي چې همدا د نوي کابل ښار د لومړي فاز د دوهمې برخې د چارو پیلېدل یې ښه بیلګه ده.

✍ **دریېم**؛ ځینو کسانو د نوي کابل ښار د لومړي فاز د دوهمې برخې د چارو د پیل له امله خوښي ښودلې ده او ویلي یې دي چې ددې پروژې په پیلېدو سره به ډېرو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره او یوه ګوله ډوډۍ به پیدا کړي او هم به د کابل په اوسني ښار کې ګڼه ګوڼه راکمه شي. اسلامي امارت په همدې موخه د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د بیارغونې پروژې پیل کړې دي او غواړي له دې لارې خلکو ته د کار زمینه برابره کړي. همدا اوس مهال په روانو پروژو، صنعت او د کانونو د استخراج په برخه کې سلګونو زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده. د کابل نوي ښار په پروژه کې به هم یو زیات شمیر خلکو ته د کار زمینه برابره شي. بله دا چې ددې ښار په جوړېدو سره به د اوسني کابل ښار

نفوس نوي ښار ته ولیږدول شي او له دې سره به په ښار کې د ګڼې ګوڼې مخه ونیول شي. د اسلامي امارت هڅه داده، څو ټولې هغه پروژې پیل کړي چې کولای شي د اقتصادي ټیکاو رامنځته کولو ترڅنګ خلکو ته د کار زمینه برابره او ورسره ښاري پراختیا رامنځته شي.

## پایله

د کابل اوسني ښار کې مېشت نفوس ددې ښار د مساحت په پرتله زیات دی او همدا لامل دی چې ښاري ماسټر پلان عملي کېدل یې له ستونزو سره مخ کړي دي. اسلامي امارت ددې له پاره چې په اوسني ښار کې د ګڼې ګوڼې مخه ونیسي او ښار ته پراختیا ورکړي، د نوي کابل ښار د پروژې چارې یې چټکې کړې دي. په دې لړ کې یې څه موده وړاندې د یادې پروژې د لومړي فاز د دوهمې برخې پروژې عملي چارې پیل کړې. د نوي کابل ښار پروژې په بشپړېدو سره به له اوسني کابل ښار څخه نوي کابل ښار پروژې ته د نفوسو انتقال پیل، په اوسني ښار کې به ګڼه ګوڼه راکمه او د ترافیکي پېښو مخنیوی به وشي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت دې ته ژمن دی چې هېواد د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي او له سیالانو سره یې سیال کړي. د نوي کابل ښار پروژې د لومړي فاز دوهمې برخې پروژې د پیل په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د اسلامي امارت مشران ژمن دي چې افغانستان له سیالانو سره سیال کړي او په دې لاره کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، چې د دې پروژې پیل یې ښه بېلګه ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د نوي کابل پروژه د هېواد په کچه د خصوصي سکتور او اسلامي امارت تر منځ د مشارکت یوه ستره ملي پروژه ده، چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې ښه زمینه برابروي. له دې خبرو څخه جوتېږي چې د اسلامي امارت مشرتابه هڅه کوي چې افغانستان له کړکیچ څخه وباسي او د یوه خپلواک اقتصاد ترڅنګ یې سترو ښارونو ته پراختیا ورکړي. په دې سره به هم اقتصادي ټیکاو رامنځته شي او هم به خلکو ته د کاري زمینې برابرېدو ترڅنګ په اوسني کابل ښار کې شته ګڼه ګوڼه راکمه او اقتصادي فعالیتونه به زیات شي.

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG